SPECIAL INSPECTOR GENERAL

AFGHANISTAN RECONSTRUCTION

# د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي پیغام

زه خوښ یم چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي لخوا د متحده ایالاتو کانګرس ته دا درېم درې میاشتنی او لومړنی نیم کلن راپور وړاندې کوم.

له هغه وخته چې دې دفتر کانګرس ته خپل اخرنی راپور وړاندې کړی، د متحده ایالاتو حکومت د افغانستان او پاکستان په اړه د متحده ایالاتو د تګلارې یوه تفصیلي ارزونه ترسره کړې ده. د 2009 د مارچ په پای کې، ولسمشر باراک اوباما یوه نوې ستراتیژي اعلان کړه چې هدف یې د القاعده خورول، بې وسلې کول، او ماتول او دې دواړو هېوادونو ته یې بیرته راستنیدل ول. د دې نوې ستراتیژۍ د تطبیقولو لپاره، چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو او ملکیانو زیاتول پکې شامل دي، د اوباما ادارې د کانګرس څخه د بیا رغونې د پروګرامونو لپاره د اضافي سرچینو غوښتنه کړې چې افغان امنیتي ځواکونه جوړ کړي، د قانون حاکمیت پر مخ بوځي، او د اقتصادي پرمختیا بنسټونه ړدي. ولسمشر په دې اړه د سیګار د مهم رول یادونه وکړه چې نظارت کوي تر څو دا خبره یقیني کړي چې د ټیکس ورکوونکیو ډالر له ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال څخه وژغورل شي.

ما د عمومي پلټونکي له ټاکل کېدو راوروسته افغانستان ته درې سفرونه کړي دي. په مارچ کې د خپل تر ټولو وروستي سفر پر مهال ما د لوړ پوړو افغان چارواکیو سره ولیدل، په ګډون د ولسمشر حامد کرزي، او هم د متحده ایالاتو د ملکي او نظامي مشرتابه. ما د نړیوالې پرمختیا د ټولنې د غړو سره هم ملاقاتونه لرل او د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو (پې ار ټیمونو) او سیمییزو دولتي چارواکیو سره مې وخت تېر کړ. دې مباحثو د متحده ایالاتو لپاره د دې عاجلې اړتیا خبره په ګوته کړه چې په افغانستان کې د فساد ضد هڅو ملاتړ وکړي او دا چې د متحده ایالاتو د بیا رغونې هڅې نه یواځې باید د متحده ایالاتو د ادارو ترمنځ لا بهتر ارتباط ولري، بلکې د دې ادارو او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت، او د نړیوالې ټولنې ترمنځ هم.

د متحده ایالاتو د نوې ستراتیژۍ د برخې په توګه، ولسمشر وویل چې د افغان دولت سره د یو نوي تړون ضرورت دی کوم چې د فاسد چلند پر وړاندې کار وکړي. افغان چارواکیو، په ګډون د ولسمشر کرزي، له مانه غوښتي چې د دولت د ظرفیت په لوړولو کې ورسره مرسته وکړم چې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي. ما له هغوی څخه غوښتنه کړې چې د افغان دولت دې تکراري غوښتنو ته نېغ په نېغه ځواب ووایي.

سیګار پر هغو لارو هم غور کوي چې د هغه فساد پر ضد د مبارزې د ملاتړ لپاره د افغانستان هغو غوښتنو ته ځواب ووایي چې زمونږ د نظارت د واک، د خپلواک او مقصدي پاتې کېدو د ضرورت، او زمونږ د بودیجې د حقیقتونو سره سمون خوري. مونږ به یوه داسې پلټنه ترسره کړو چې تمرکز یې په دې وي 1) د فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغان دولت د ظرفیت تکاملي جاج اخیستل او 2) د هغه څه معلومول چې متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د دغه ظرفیت د پیاوړي کولو لپاره کړي دي. دا پلټنه به د دې ارزونه هم وکړي چې د متحده ایالاتو حکومت د فساد پر وړاندې د مبارزې په مرسته کې د افغان دولت غوښتنو ته څرنګه ځواب ویلی دی.

په مارچ کې د کانګرس د نظامي خدمتونو د کمیټې په وړاندې په خپل بیان کې ما دې خبرې ته اشاره وکړه چې د متحده ایالاتو لخوا د ټاکل شویو 32 ملیارده ډالرو پر بودیجې برسېره، نړیوالې ټولنې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د شاوخوا 25 ملیارده ډالرو ژمنه کړې ده. د انسجام او څارنې ګډ پلاوی (JCMB) د افغانستان تړون او د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ (ANDS) د انسجامولو او تطبیقولو مسوولیت پر غاړه لري.

JCMB یو ریاست جوړ کړی دی او په دې اړه یوه ستراتیژیکه کتنه ترسره کوي چې د افغانستان ترڅو د ANDS د اهدافو سره د مربوطولو ملاتړ وکړي. مونږ عقیده لرو چې بهتره همکاري او مربوطیا د دې لپاره ضروري ده چې د هغو ټولو بودیجو څخه چې افغانستان ته ورکړل شوي بشپړه ګټه واخیستل شي، او په عین حال کې، په هغې اساسي ضیاع کې کموالی راوستل شي چې د هڅو د تکرار له امله رامنځته کېږي. زه افغانستان ته د خپل راتلونکي سفر پر مهال د JCMB د غړیو سره د کتلو پلان لرم تر څو دا خبره ورسره بحث کړم چې دوی د افغانستان د بیا رغونې په لړ کې د نړیوال ارتباط د زیاتولو لپاره څه کوي.



څانګړی عمومي پلټونکی (منځ کې) په کونړ ولایت کې د یو پول د جوړېدو معاینه کوي

په تېرو دریو میاشتو کې سیګار خپل دفترونه پراخ کړي دي. مونږ اوس د افغانستان په څلورو ځایونو کې حضور لرو او خپل دا پلان عملي کوو چې هغه پراخ بین الاداري نظارت برابر کړو چې په 2008 کې د ملي دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون (پي.ایل. 110-181) لخوا یې واک ورکړل شوی کوم چې سیګار جوړ کړی دی. مونږ شپږ پلټنې پیل کړې دي. د دې پلټنو څخه ځینې، لکه د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (CERP) د کنټرولونو او احتساب کتنه، به د متحده ایالاتو پر پروګرامونو تمرکز لري. نورې، لکه د متحده ایالاتو او هغو نړیوالو پروګرامونو کتنه چې د افغانستان د انرژۍ د سکټور سره مرسته کوي، به د نورو شیانو تر څنګ، د ګڼ اړخیزه اهدافو، انسجام، او د هغې کچې ارزونه وکړي تر کومه چې افغانان د پرېکړې د کولو په پروسه او د بیا رغونې د پروګرامونو په تطبیق کې برخه اخلي. مونږ د قرارداد پر نظارت هم کار پیل کړی او تمه لرو چې لومړنی د پلټنې راپور به د مې په میاشت کې راشي. یو ځل چې دا راپور بشپړ شي مونږ به په افغانستان کې د امنیتي قراردادیانو د استعمال معاینه پیل کړو.

زما د معاینې ټیم، په ولایتونو کې د بیا رغونې د څو پروژو له کتلو وروسته، پرېکړه کړې چې دا احتمال لري چې په ټول افغانستان کې معاینې ترسره کړای شي. زمونږ معاینه کاران دا مهال د انفراسټرکچر په پروژو او پي ار ټیمونو باندې تمرکز لري.

سیګار باور لري چې په افغانستان کې د بیا رغونې د هڅو د اغېزمن نظارت په کولو سره به خپل پراخ کار ترسره کړي. مونږ د اختصاص شویو بودیجو په توګه 16 ملیونه ډالر ترلاسه کړي دي او دا د دې لپاره کافي ول چې خپلې ابتدایي اړتیاوې پرې پوره کړو. خو، مونږ د پاتې مالي کال 2009 لپاره د 7.2 ملیونه ډالرو د کمي سره مخ یو. دا اضافي بودیجه زمونږ لپاره ځکه مهمه ده څو داسې مسلکي خلک په کار وګمارو چې زمونږ د نظارت د مسوولیتونو د پوره کولو لپاره ضروري دي.

په ډېر درناوي،

ارنلډ فیلډز
برید جنرال، یو ایس ایم سي (متقاعد)
د افغانستان د بیا رغونې لپاره څانګړی عمومي پلټونکی

# د منځپانګې فهرست

| | |
|---|---|
| **چوکاټونه او ګرافونه** | **v** |
| **اجراييوي لنډيز** | **2** |
| **برخه 1: پېژندګلوي** | **5** |
| **برخه 2: د سيګار نظارت** | **9** |
| د سيګار مشن، اهداف او جوړښت | 9 |
| پلټنې | 11 |
| معاينې | 17 |
| څېړنې | 22 |
| د معلوماتو سمبالښت | 23 |
| د سيګار انديښنې | 24 |
| د سيګار بيان | 26 |
| د سيګار بوديجه | 26 |
| د سيګار دفترونه او کارکوونکي | 28 |
| په افغانستان کې د سيګار ملاقاتونه | 29 |
| **برخه 3: د بيا رغونې د بوديجو لنډيز** | **32** |
| د بيا رغونې د بوديجو لنډيز | 32 |
| د متحده ايالاتو بوديجې | 32 |
| د تطبيقوونکي ادارې په ترتيب د متحده ايالاتو اختصاص کړې بوديجې | 33 |
| د مالي ډاټا پلټنه | 42 |
| په افغانستان کې د بيا رغونې قراردادونه | 43 |
| نړيواله مرسته | 43 |

**برخه 4: د بیا رغونې د نظارت لنډیز** **46**

پېژندګلو 46

د نظارت راپورونه چې د جنوري 30، 2009 څخه راپدېخوا بشپړ شوي 46

د سیګیر سختې تجربې 50

د نظارت پلان شوې پلټنې 51

**ضمیمې** **53**

ضمیمه ا – د راپور ورکولو د شرطونو کتنه 53

ضمیمه ب – د متحده ایالاتو د حکومت اختصاص کړې بودیجې 56

ضمیمه ت – د سیګار پلان کړې او روانې پلټنې 64

ضمیمه ث – د سیګار پلان کړې معاینې 64

ضمیمه ج – د سیګار د تماس پوسترونه 65

ضمیمه ح – لنډیزونه 68

ضمیمه خ – پایلیکونه 72

## چوکاټونه او ګرافونه

چوکاټ 2-1: د سیګار د بودیجو لنډیز 29

چوکاټ 2-2: د سیګار د مامورینو شمېر 30

چوکاټ 3-1: د مالي کال په ترتیب د متحده ایالاتو اختصاصونه 34

انځور 3-1: افغانستان لپاره د متحده ایالاتو اختصاص کړې بودیجې 35

انځور 3-2: د د دفاع وزارت د بودیجو کلني پروګرامونه 36

چوکاټ 3-2: د سکتور په ترتیب د CERP کلنی بودیجې 39

چوکاټ 3-3: د د بهرنیو چارو وزارت د بودیجو کلني پروګرامونه 40

انځور 3-4: د USAID د بودیجو کلني پروګرامونه 41

انځور 3-5: د متحده ایالاتو د زراعت د وزارت د بودیجو کلني پروګرامونه 42

انځور 3-6: د نورو ادارو د بودیجو کلني پروګرامونه 43

چوکاټ 3-3: د ادارې په ترتیب اختصاص شوې، منل شوې، او مصرف شوې بودیجې 44

چوکاټ 3-4: د ادارې په ترتیب د افغانستان د بیا رغونې قراردادونه 45

چوکاټ 3-5: نړیواله مرسته 45

چوکاټ 4-1: د GOA د نظارت بشپړ کړې راپورونه 48

چوکاټ 4-2: د د بهرنیو چارو وزارت ایي جي، روانې پلټنې 53

چوکاټ 4-3: د د دفاع وزارت ایي جي، روانې پلټنې 53

چوکاټ 4-4: GOA، روانې پلټنې 53

# اجراييوي لنډيز

# اجراییوي لنډيز

د افغانستان د بیا رغوني په اړه د کانګرس لپاره دا درې میاشتنی او نیم کلنی راپور په څلورو برخو ویشل شوی دی چې وروسته ورپسې ضمیمې دي. لومړنی برخه هغه وروستي پرمختګونه لیست کوي چې د افغانستان پر بیا رغونه اغېز لري. دویمه برخه د سیګار د نظارت د هغو فعالیتونو تفصیل وړاندې کوي چې د 2009 د جنوري له 30مې راپدېخوا اخیستل شوي. درېمه برخه په افغانستان کې د بیا رغوني د بودیجو د استعمال تازه حال وړاندې کوي. څلورمه برخه د افغانستان په تړاو هغه راپورونه او پلټنې تشریحوي چې د نورو عمومي پلټونکیو او د حکومت د احتساب د دفتر (GOA) لخوا ترسره شوي دي.

### د افغانستان تازه حال

ګڼ شمېر وروستیو پرمختګونو، په ګډون د افغانستان او پاکستان لپاره د متحده ایالاتو د یوې نوې ستراتیژۍ د اعلان، په افغانستان کې د بیا رغوني پروګرام اغېزمن کړی دی او د سخت نظارت ضرورت یې څرګند کړی دی. سیګار خپلو پلټنو او معاینو ته داسې ترجیحات ورکړي دي چې د هغو پروژو او پروګرامونو پراخ نظارت وکړي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ستراتیژیکو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره مهم دي.

د ازادو، پاکو، او شفافو ټولټاکنو د اهمیت په پېژندلو سره، سیګار د هغو پروګرامونو یوه دوه پړاویزه پلټنه ترسره کوي چې د ټولټاکنو د پروسې ملاتړ کوي. د پلټنې لومړۍ برخه، چې د ټولټاکنو څخه به وړاندې خپره شي، د دې لپاره ده چې هغه څه وپېژني چې متحده ایالات او نړیواله ټولنه یې د افغانستان د ټولټاکنو د چمتووالي کې د مرستې لپاره کوي. د پلټنې دویمه برخه به د ټولټاکنو څخه وروسته د "یادو شوو تجربو" د راپور په توګه خپور شي چې د راتلونکیو ټولټاکنو په پلان کولو کې مرسته وکړي.

### د سیګار نظارت

کانګرس ته د خپل وروستي درې میاشتني راپور څخه راپدېخوا، سیګار د نظارت د پلان درې اسناد بشپړ کړي، شپږ پلټنې یې پیل کړي، په افغانستان کې یې د بیا رغوني د پروژو د ګڼ شمېر ځایونو سفرونه ترسره کړي، او د فساد ضد هڅو په تړاو یې د څېړنې دوه خطونه لېږلي دي. همداراز عمومي پلټونکي د کانګرس د نظامي خدمتونو د کمیټې په وړاندې د "اغېزمنه تروریزم ضد مبارزه: د بیا رغوني د بودیجو سم او ناسم استعمال څرنګه په عراق او افغانستان کې د جګړې پر هڅو اغېز کوي" په اړه سماعت کې بیان ورکړ.

### د بیا رغوني بودیجې

د متحده ایالاتو کانګرس له 2002 راپدېخوا د افغانستان د بیا رغوني لپاره 32.9 ملیارده ډالر اختصاص کړي دي. د همدې مودې پر مهال نورو ملتونو او نړیوالو سازمانونو هم د افغانستان د بیا رغوني لپاره ټول د شاوخوا 25.4 ملیارده ډالرو ژمنې کړې دي. دا مهال، متحده ایالات د هغو 58.3 ملیارده ډالرو چې افغانستان ته ورکړل شوي او یا یې ژمنه شوې څخه شاوخوا 60 سلنه پخپله ورکوي.

سیګار پلان لري چې یوه داسې پلټنه ترسره کړي چې د متحده ایالاتو د بودیجو هغه ټول اختصاصونه، ژمنې، او لګښتونه وپېژني او تعقیب کړي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره کارول شوي دي. د دې پلټنې د نتیجې په توګه به سیګار په دې

وتوانېږي چې د مالي کال په ترتيب، او همداراز د اداري او د بيا رغونې د سکټور او يا پروګرام په ترتيب د متحده اياالاتو د بوديجو د استعمال په اړه تفصيلي او باوري معلومات وړاندې کړي.

د دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو، او همداراز د نړيوالې پرمختيا لپاره د متحده اياالاتو ادارې راپور ورکړی چې په افغانستان کې د بيا رغونې د شاوخوا 950 قراردادونو لپاره تقريباً 13.6 مليارده ډالر منل شوي دي. سيګار د دې ادارو لخوا د ورکړل شوې ډاټا تحليل کوي.

**د نورو ادارو لخوا نظارت**

GOA دوه راپورونه خپاره کړي او د دې راپور د مودې پر مهال يې د افغانستان د بيا رغونې په اړه کانګرس ته ورکړی بيان هم ورکړی. د GOA دواړه راپورونه د متحده اياالاتو د هغو اړخونو په تړاو دي چې افغان امنيتي ځواکونه جوړ کړي.

د بهرنيو او دفاع وزارتونو عمومي پلټونکي، او همداراز د USAID عمومي پلټونکی، او GOA په افغانستان کې د بيا رغونې د فعاليتونو په اړه رواني پلټنې لري. سيګار به د دې پلټنو کله چې دا خپرې شي لنډيزونه وړاندې کړي.

# پیژندګلوي

# 1

## پېژندګلوي

کانګرس ته د سيګار د وروستي درې مياشتني راپور څخه راپېژنخوا، ګڼ شمېر پرمختياو په افغانستان کې د بيا رغونې پر پروګرام اغېز کړی او د يو سخت نظارت اړتيا يې څرګنده کړې ده. سيګار خپل ستراتيژيک پلانونه جوړ کړي چې هغه مسلې حل کړي چې د دې پېښو په نتيجه کې راپورته شوې دي:

- متحده ايالاتو يوه نوې نظامي او سياسي ستراتيژي اعلان کړې او د هغې تطبيق يې پيل کړی کومه چې به د افغانستان د بيا رغونې لپاره د اضافي سرچينو غوښتنه کوي.

- نړيوالې ټولنې ژمنه وکړه چې په افغانستان کې به د دولتدارۍ، اقتصادي پرمختيا، او امنيتي پروګرامونو لپاره اضافي سرچينې برابر کړي.[i]

- افغانستان د دې کال د اګست د مياشتې لپاره د ولسمشرۍ ټولټاکنې ترتيب کړې دي.

- افغان چارواکيو، په ګډون د ولسمشر حامد کرزي، په شخصي توګه د فساد په وړاندې د مبارزې په لړ کې د مرستې لپاره د سيګار څخه غوښتنه کړې ده.

### د متحده ايالاتو نوې ستراتيژي

په ټول افغانستان کې د مخ پر خرابېدونکي امنيت په ځواب کې، ولسمشر اوباما د متحده ايالاتو يوه نوې ستراتيژي اعلان کړه چې "القاعده په پاکستان او افغانستان کې له کاره وباسي، بې اغېزې يې کړي، او ماته ورکړي، او په راتلونکي کې دې هر هيواد ته يې د راستنېدو مخه ونيسي."[ii] د دې ستراتيژۍ د لاندې متحده ايالات د افغانستان لپاره خپله مرسته په درېو مهمو برخو کې زياتوي. لومړی، متحده ايالات د امنيت د بهترولو لپاره اضافي جنګي ځواکونه ځای پر ځای کوي. دويم، دا د خپل مشن تاکيد د افغانستان د امنيتي ځواکونو د کچې زياتولو او د هغوی روزلو ته بدلوي. درېيم، دا ملکي هڅې ته پراختيا ورکوي چې ښې دولتدارۍ او اقتصادي پرمختيا ته وده ورکړي.[iii] دا نوې ستراتيژي د بيا رغونې د ټول پروګرام لا زيات نظارت غواړي.

د 2009 د اپريل په نهمه ولسمشر د متحده ايالاتو کانګرس ته د يو ضميمه يي اختصاص غوښتنه ولېږله چې ټوله 83.4 مليارده ډالره وه څو روانو نظامي، ډيلوماتيکو، او استخباراتي عملياتو ته بوديجې برابر کړي. هغه وويل چې د دې بوديجو نږدې 95 سلنه به په عراق او افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځواکونو د ملاتړ لپاره وکارول شي. ولسمشر وويل چې پاتې پيسې به يو شمېر نورو د متحده ايالاتو او نړيوالو پروګرامونو ته بوديجې ورکړي.[iv] دا تر اوسه پورې واضحه نده چې د دې څومره برخه به د افغانستان بيا رغونې ته ځي.

ولسمشر وويل چې د "ضياع نه ډکې بيا رغونې" ورځې بايد پای ته ورسي او اعلان يې وکړ چې د هغه په بوديجه کې به د سيګار د زياتې بوديجې غوښتنه هم شامله وي.[v] سيګار د خپلو پلټنو او معاينو داسې ترجيحات جوړوي چې د هغو پروژو او پروګرامونو پراخ نظارت وکړي کوم چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ستراتيژيکو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره مهم دي.

دا نوې ستراتيژي به د افغانستان د امنيتي ځواکونو د جوړولو لپاره اضافي سرچيني ورکړي. په راروانو مياشتو کې به متحده ايالات شاوخوا 4000 د متحده ايالاتو سرتېري ځای پر ځای کړي چې افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پوليس وروزي او ملاتړ يې وکړي. هدف دا دی چې تر 2011 پورې يوه د 134000 قوي پرسونل پوځ وي او 82000 قوي د پوليسو ځواک وي.[vi] سيګار په ځانګړي ډول هغو امنيتي پروګرامونو ته پاملرنه کوي چې چې تر اوسه پورې يې د متحده ايالاتو د بيا رغوني تر نيم زيات ډالر مصرف کړي دي. د بېلګې په توګه، د سيګار د پلټني لومړنی راپور، کوم چې دا تمه لري په مې 2009 کې به يې خپور کړي، د 404 مليونه ډالرو د هغه يو قرارداد د نظارت معاينه کوي چې ملي اردو او ملي پوليسو ته د روزنې ورکولو لپاره و.

برسېره د ځواکونو پر زياتولو، متحده ايالات پلان لري چې په ولايتونو کې په ملکي هڅو کې د پام وړ زياتوالی راولي څو د بيا رغوني د ګڼ شمېر هغو فعاليتونو پراخ ملاتړ وکړي چې د افغانستان اقتصاد او اداري پياوړې کوي. په دې کې شامل دي افغانانو سره د دې لپاره کار کول چې د هغو غير قانوني موادو د تجارت چې جرمونه زياتوي او ياغيتوب ته بوديجې برابروي په ځای اقتصادي بديلونه جوړ کړي، مهم انفراستراکچر ورغوي، بنسټيز خدمتونه برابر کړي، د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي، او د قانون حاکميت پر مخ بوځي. لدې امله چې زياتره د دې ملکيانو څخه به د ولايتي بيا رغوني په ټيمونو (پی ار ټيمونو) کې ټاکل کېږي، سيګار د پی ار ټيمونو د سمباليښت يوه بشپړه معاينه پيلوي. د مالي کال 2009 پر مهال به سيګار د څلورو پي ار ټيمونو معاينه وکړي او اراده لري چې په راتلونکيو دوو کلونو کې به د هغو ټولو 26 پي ار ټيمونو کتنه بشپړه کړي چې په افغانستان کې کار کوي. برسېره پر دې، سيګار د قوماندان د بيړني ځواب د پروګرام (CERP) د داخلي کنټرولونو پلټنه کوي، دا اداره د پي ار ټي د بيا رغوني د ځينو پروژو بوديجې برابروي.

د متحده ايالاتو نوې ستراتيژي همداراز په دې خبره نوی ټاکيد کوي چې د افغانستان د بيا رغوني لپاره دې نړيوال ملاتړ زيات شي. ولسمشر وويل چې متحده ايالات په افغانستان کې د خپلو ناټو ايتلافيانو، د ملګرو ملتونو او نړيوالو مرستندويه سازمانونو څخه غوښتنه کوي چې اضافي ملکيان ورکړي – د زراعت پوهانو او تعليم پوهانو څخه تر انجينيرانو، قانونپوهانو او حساب پوهانو – چې د بيا رغونې په هڅه کې مرسته وکړي. سيګار د افغانستان د بيا جوړولو لپاره د متحده ايالاتو او نړيوالو پروژو او پروګرامونو انسجام ته ځانګړې پاملرنه کوي.

**د افغانستان په اړه نړيوال کنفرانس**

د بهرنيو چارو سکرترې هيلري کلنټن د متحده ايالاتو د نوې ستراتيژۍ لپاره د افغانستان په اړه په هغه نړيوال کنفرانس کې ملاتړ ترلاسه کړ چې په هالنډ کې د مارچ په 31مه ترسره شو. د شاوخوا 90 هيوادونو استازو په دغې غونډه کې ګډون وکړ او په يوه اخري بيانيه کې د کنفرانس رييس دې ستراتيژۍ ته "په افغانستان کې زمونږ د عامه هڅو د بيا تيزولو لپاره د يو مهم کار" په توګه هرکلی ووايه.[vii] د کنفرانس ګډون کوونکيو درې ترجيحي اهداف وپېژندل: ښې دولتدارۍ او پياوړو ادارو ته وده ورکول؛ اقتصادي ودې ته لاره هوارول؛ او امنيت پياوړی کول او سيمييزه همکاري پراخول. هغوی ژمنه وکړه چې د دې اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره ضروري سرچيني به برابر کړي.[viii]

د دې د نظارت د مسووليتونو د برخې په توګه، سيګار د افغانستان بيا رغوني ته نړيوالې ورکړې تعقيبوي تر څو د نړيوالې ټولنې د پروګرامونو سره د متحده ايالاتو د پروګرامونو د انسجام تکاملي جاج واخلي. د سيګار په ستراتيژيک پلان کې شامل دي هغه پلټنې کومې چې به يواځې د يو سکټور دننه د متحده ايالاتو پروژو ته کتنه نه کوي، بلکې د هغې کچې ارزونه به هم کوي تر کومې چې دغه په يو عمومي پلان کې د نړيوالو بوديجو د پروژو سره مربوطې کړای شوې وي.

د دې نړيوال کنفرانس ګډونوالو د افغانستان د ولسمشريزو ټولټاکنو ارزښت مهم وباله او ژمنه يې وکړه چې د يو داسې خوندي، شفاف، پاک، او اعتباري ټولټاکنو د ترسره کولو د هڅې ملاتړ به وکړي چې دموکراسۍ ته وده ورکړي.[ix]

**ټولټاکنې**

د ولسمشر کرزي موده په رسمي توګه د دې کال د مې په 22مه نېټه پای ته رسېدله. هر څو که د افغانستان اساسي قانون وايي چې ټولټاکنې دې د يو ولسمشر د مودې له پای ته رسېدو 30 يا 60 ورځې مخکې ترسره کړای شي، د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کميسيون (ايي اي سي) اعلان وکړ چې دا به ټولټاکنې د 2009 د اګست په 20مه ترسره کوي.[x] دا ځنډونه افغان او نړيوالو ځواکونو ته د امنيت د بهترولو لپاره لا زيات وخت ورکوي. د ټولټاکنو کميسيون پلان لري چې د رايو روکولو مرکزونه په هره ولسوالۍ کې پرانزي، په داسې حال کې چې دا خبره رسماً کوي چې ښايي په دې ونه توانېږي چې په هغو 14 ولسواليو کې د رايه ورکوونکو ثبتونه ترسره کړي چې د ملګرو ملتونو لخوا ناخوندي ګرځول شوې دي. ملګري ملتونه د ټولټاکنو د دې پروسې ملاتړ د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروژې (يو اين ډي پي) له لارې کوي. متحده ايالاتو په دې وروستيو کې د يو اين ډي پي د ټولټاکنو د هڅو لپاره د 40 مليونه ډالرو ژمنه کړې او نور اساسي مرستندويه ملتونه دې ته هڅوي چې داسې بوديجې ورکړي چې د ټولټاکنو لپاره د يو اين ډي پي غوښتنې پوره کړي.[xi]

د ازادو، پاکو، او شفافو ټولټاکنو د اهميت په پيژندلو سره، سيګار د هغو پروګرامونو يوه دوه پړاويزه پلټنه ترسره کوي چې د ټولټاکنو د پروسې ملاتړ کوي. د پلټنې لومړۍ برخه، چې د ټولټاکنو څخه به وړاندې خپره شي، د دې لپاره ده چې هغه څه وپيژني چې متحده ايالات او نړيواله ټولنه يې د افغانستان د ټولټاکنو د چمتووالي کې د مرستې لپاره کوي. د پلټنې دويمه برخه به د ټولټاکنو څخه وروسته د "ياد و شوو تجربو" د راپور په توګه خپور شي چې د راتلونکيو ټولټاکنو په پلان کولو کې مرسته وکړي.

**فساد ضد پروګرامونه**

د متحده ايالاتو حکومت ويني چې فساد د افغان دولت مشروعيت له منځه وړي او د ښه رغونې او پرمختيا هڅو ته زيان رسوي. ولسمشر اوباما، د نوې د ستراتيژۍ د اعلانولو پر مهال، وويل چې متحده ايالات "به د افغان دولت سره يو داسې نوی تړون وکړي چې د فاسد چلند پر ضد کار وکړي" او د نړيوالې مرستې لپاره واضحې لاښودنې جوړې کړي.

افغان چارواکيو، په ګډون د ولسمشر کرزي، د سيګار څخه غوښتنه کړې چې هغوی سره د فساد پر وړاندې مبارزه کې د ظرفيت د لوړولو لپاره مرسته وکړي. سيګار عقيده لري چې د فساد پر وړاندې جنګ لپاره د افغان دولت استعدادونه پياوړي کول بايد د ښه رغونې د هڅې يوه داخلي برخه وي. سيګار د متحده ايالاتو لوړپوړو چارواکيو ته ليکلي چې معلوم کړي د متحده ايالاتو حکومت دا مهال په افغانستان کې د فساد پر وړاندې مبارزې لپاره څه کوي.

سيګار به يوه داسې پلټنه ترسره کړي چې د فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغان دولت د ظرفيت تکاملي جاج واخلي او دا خبره معلومه کړي چې متحده ايالاتو او نورو مرستندويانو د افغانستان د دې ظرفيت د پياوړي کولو لپاره څه کړي دي. دا پلټنه به د دې ارزونه هم وکړي چې د متحده ايالاتو حکومت د افغان دولت لخوا د فساد پر وړاندې د مبارزې په لړ کې د مرستې غوښتنو ته څرنګه ځواب ورکړی دی.

# د سیګار نظارت

د سیګار مشن، اهداف او جوړښت

پلټنې

معاینې

څېړنې

د معلوماتو سمبالښت

د سیګار اندېښنې

د سیګار بیان

د سیګار بودیجه

د سیګار دفترونه او کارکوونکي

په افغانستان کې د سیګار ملاقاتونه

2

## د سيګار نظارت

د 2008 د ملي دفاع د صلاحيت ورکولو قانون (عامه قانون 110-181) د افغانستان د بيا رغونې لپاره د عمومي پلټونکي دفتر (سيګار) د دې لپاره جوړ کړ چې د مالیې ورکوونکيو د ډالرو او اړوندو بوديجو په اړه د خپلواکو او مقصدي پلټنو او معاينو په ترسره کولو سره د افغانستان د بيا رغونې لپاره د نظارت پروګرامونه پراخ کړي. د سيګار د مشن يوه مهمه برخه کانګرس او د بهرنيو چارو او دفاع وزارت د بيا رغونې د پرمختګ او کمزوريو څخه خبر ساتل دي.

د افغانستان په بيا رغونه کې، لکه چې تعريف يې په پي.ايل. 110-181 کې شوی، شامل دي هر غټ قرارداد، بوديجه، معاهده، يا د بوديجې ورکولو بل هر هغه ميکانزم چې د متحده ايالاتو د حکومت د هرې وزارت يا ادارې لخوا ترسره شوی يا تطبيق شوی وي چې د هغو بوديجو استعمال پکې شامل وي چې اختصاص شوې وي، او يا په بله توګه د افغانستان د بيا رغونې لپاره کومې خصوصي ادارې ته د دې لپاره په لاس ورکړل شوې وي چې:

- د افغانستان فزيکي انفراسټرکچر جوړ او يا بيا جوړ کړي
- د افغانستان سياسي او ټولنيزې ادارې جوړې او يا بيا جوړې کړي
- د افغانستان د خلکو لپاره توليدات يا خدمتونه برابر کړي.[xii]

د دې درې مياشتنی پر مهال، سيګار د نظارت د پلان درې اسناد بشپړ کړي، شپږ پلټنې يې پيل کړي، په افغانستان کې يې د بيا رغونې د پروژو د ګڼ شمېر ځايونو سفرونه ترسره کړي، او د فساد ضد هڅو په تړاو يې د څېړنې دوه خطونه لېږلي دي. همدارز عمومي پلټونکي د کانګرس د نظامي خدمتونو د کميټې په وړاندې د "اغېزمنه تروريزم ضد مبارزه: د بيا رغونې د بوديجو سم او ناسم استعمال څرنګه په عراق او افغانستان کې د جګړې پر هڅو اغېز کوي" په اړه سماعت کې بيان ورکړی.

## د سيګار مشن، اهداف، او جوړښت

سيګار په دې پوهيږي چې بيا رغونه د متحده ايالاتو د دې ستراتيژۍ لپاره مهمه ده چې القاعده ته ماتې ورکړي او په افغانستان کې يو لا زيات استعداد لرونکي او تر حساب لاندې دولت ته وده ورکړي.

د خپل کار په ترسره کولو کې سيګار د افغانستان تړون او د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژۍ (ANDS) د بيا رغونې اهداف، او همدارز د متحده ايالاتو ستراتيژيک اهداف په نظر کې نيسي. افغانستان تړون، چې په 2006 کې منظور شوی و، افغانستان سره د نړيوالې همکارۍ لپاره يوه لايحه جوړه کړې وه. دې د بيا رغونې دا درې مهمې او پر يو بل متکي ستنې پېژندلې وې: امنيت، دولتداري، او پرمختيا. ANDS، چې د ولسمشر کرزي لخوا په اپريل 2008 کې لاسليک شوه، د 2020 لپاره د افغان دولت پرمختيايي ليد برابر کړ، او د افغانستان د دريو ستنو دننه يې د مشخصو اهدافو خاکه وړاندې کړه.

د سيګار اساسي هدف د متحده ايالاتو کانګرس، د متحده ايالاتو ادارو، او نورو فيصله سازو ته دقيق او متوازن معلومات، مشاهدې، او سپارښتني ورکول دي د دې لپاره چې:

- د بيا رغوني د عمومي ستراتيژۍ او د دې د جزوي پروګرامونو اغېزمنتيا بهتره کړي
- د هغو بوديجو سمبالښت او احتساب بهتر کړي چې د متحده ايالاتو او افغان ادارو او د هغوی د قراردادیانو لخوا اداره کيږي
- قرارداد کول او د قرارداد د سمبالښت پروسي بهترې کړي
- د دوکې، ضياع، او ناسم استعمال مخه ونيسي
- د افغانستان په بيا رغونه کې د متحده ايالاتو ګټې پر مخ بوځي

سيګار د خپلو مقاصدو د لاسته راوړلو لپاره دا څلور رياستونه جوړ کړي دي – پلټني، معاينې، څېړنې، او د معلوماتو سمبالښت. دا په ارلينګټن، ورجينيا، او په کابل کې د متحده ايالاتو په سفارت کې دفترونه لري. د دې راپور ورکولو په موده کې، سيګار د باګرام په هوايي ډګر او د کندهار په هوايي ډګر کې هم خپل حضور پيدا کړ تر څو په ولايتونو کې د بيا رغوني د پروژو د پلټنو، معاينو او څېرنو لپاره د سفرونو اسانتيا برابره کړي.

**د پوځ د وزارت او د متحده ايالاتو د ځواکونو-افغانستان (USFOR-A) سره د معاهدې ياداښت**

په اپريل 2009 کې سيګار او د متحده ايالاتو د پوځ سکرتر د معاهدې يو يادابنت (MAO) لاسليک کړ چې سيګار لپاره د ټاکل شوې ملاتړې اداري په توګه يې د پوځ د وزارت اقدامات، رول او مسووليتونه واضح کړل. په دې کې شامل دی اداري، لوژيستيکي، او د قرارداد ملاتړ. سيګار يو بل ايم او ای د USFOR-A سره لاسليک کړ کوم چې په افغانستان کې د سيګار لپاره د USFOR-A د مرستې لايحه جوړوي. د دې معاهدې لاندې USFOR-A د 2009 د اپريل په 1له نېټه د سيګار هغو ټيمونو ته نبغ په نبغه مرسته ورکول پيل کړل چې د کمپ ايګرز او کابل هوايي ډګر څخه کار کوي. USFOR-A وروسته يو بلاواسطه امر (FRAGO) جاري کړ چې خپلو ماتحتو قوماندو ته يې لاربنودنه وکړه چې په ټول افغانستان کې د امنيت، د دفتر د ځای، د ژوند د ملاتړ، او ترانسپورت په ورکولو سره د سيګار د نظارت د هڅو سره مرسته وکړي. دا مرسته د سيګار د نظارت د مشن د سر ته رسولو لپاره مهمه ده.

## پلټنې

سیګار د پلټنو لپاره یو مرستیال عمومي پلټونکي (ای ایي جي-پلټنې) ټاکلی دی او اوس اته پلټونکي او د پروګرام تحلیلونکي په مېدان کې لري. په دوی کې څلور په کابل کې کار کوي او څلور نور به کله چې اړتیا وي افغانستان ته سفر کوي. دا ټول لوړ تعلیمیافته مسلکیان دي چې د حکومت د احتساب د دفتر (GOA) او یا د نورو عمومي پلټونکیو سره د پام وړ کاري تجربه لري، او زیاتره یې پرمختللې شهادتنامې لري. د دې لپاره چې په عارضي توګه مرسته وکړي او د پلټنې عمله زیاته کړي، د عراق د بیا رغونې لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګیر) د عملې درې غړي سیګار ته ورکړي دي. هغوی دا مهال په کابل کې دي او سیګار د هغوی معاشونه ورکوي. سیګار پلان لري چې په دې مالي کال کې لږ تر لږه لس اضافي پلټونکي په کار وګوماري.

د 2009 د جنوري له 30مې نیټې راپدیخوا، د سیګار د پلټنې ټیم خپل ستراتیژیک پلان بشپړ کړی، د مالي کال 2009 لپاره یې یو کاري پلان جوړ کړی، او شپږ پلټنې یې پیل کړې.

### د پلټنو لومړیتوبونه

عامه قانون 110-181 (برخې 1229 او 842) سیګار ته په دې درېیو برخو کې د پلټنې پراخ مسوولیتونه ورکوي:

- سیګار ته لاربنوونه کوي چې د هغو پیسو سره د چلند، سمبالښت او لګښت پلټنې ترسره کړي، څارنه یې وکړي، او انسجام یې کړي چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوي او یا په لاس کې ورکړل شوي دي، او د هغو پروګرامونو، عملیاتو، او قراردادونو هم چې د داسې بودیجو په کارولو ترسره کړای شوې وي.
- غوښتنه کوي چې د قراردادونو پلټنې دې د نورو عمومي پلټونکیو سره مربوطې کړای شي، او سیګار ته هدف ورکوي چې د دې قراردادي پلټنو په حکومت پراخه توګه د ترسره کولو لپاره جامع پلان جوړ کړي.
- سیګار ته مسوولیت ورکوي چې د بیا رغونې د ټولو بودیجو ساینسي پلټنې ترسره کړي.

سیګار د پلټنو شپږ کټګورۍ پېژندلې چې پلان لري له لارې یې دا مسوولیتونه سر ته ورسوي، په هغوی کې شاملې دي کتنې د:

- امنیتي پروګرامونو چې د افغانستان د پوځ او پولیسو د پرمختیا سره مرسته کوي
- د سکټور اغېزمنتیا ته پرمختیا ورکوي
- د دولتدارۍ سکټور ته اغېزمنتیا ورکوي
- د امنیتي خدمتونو او د بیا رغونې د نورو اهدافو لپاره د قراردادیانو او مشخصو قراردادونو کارول
- داخلي کنټرولونه او احتساب

- د بیا رغونې ستراتیژۍ، پلان جوړونه، او نظارت

د سیګار شپږ پلټنې تر کار لاندې دي چې د دې څلورو کټګوریو لاندې راځي. څرنګه چې سیګار خپل د پلټنې ظرفیتونه جوړوي، دا هیله لري چې هر وخت به یې په هره کټګورۍ کې لږ تر لږه یوه کتنه روانه وي. ټولې پلټنې به له پیل کېدا وړاندې د عمومي پلټونکیو د باخبره ټولنې او د GOA سره کتل کېږي تر څو د یو کار له بیا کولو څخه ځان وساتل شي او د مخکنیو راپورونو څخه ښه ګټه واخیستل شي. د هغو قراردادي پلټنو په استثنا چې د سیګار د توانمنونکې قانون سازۍ (پي ایل 110-181) لخوا یې واک ورکړل شوی، د پلټنې ټیم به په عمومي توګه په ډېرو ادارو کې ګوري چې د عمومي پلټونکیو د جلا جلا واکونو نقل ونکړای شي. سیګار به د پلټنې د ترجیحاتو پرېکړه د کانګرس د لارښودنې پر بنسټ، د نورو عمومي پلټونکیو د پلټنو د کار او پلانونو، د GOA، او د پلټنې د نورو ادارو د کار سره سم، په افغانستان کې د پېښو، د هغو امنیتي مسلو چې د کار د ترسره کولو احتمال اغېزمن کوي، د متحده ایالاتو د ادارو، په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت، او د افغانستان د دولت د کار سره سم کوي.

### امنیتي سکټور: د پوځ او پولیسو کومک

افغانستان لپاره د متحده ایالاتو نوې ستراتیژۍ او ANDS دواړه د افغانستان د پوځې او د پولیسو د ځواکونو د پرمختګ له لارې د امنیت بهترول تر ټولو لوړ لومړیتوب جوړوي. د افغان ځواکونو او پولیسو د ملاتړ او روزنې لپاره د هغو 32 ملیارده ډالرو څخه شاوخوا 15 ملیارده ډالر تللي چې د 2002 څخه راپدېخوا د افغانستان د بیا رغونې لپاره اختصاص شوي دي. دا د بیا رغونې د بودیجو تر ټولو ستره برخه ده. د افغانستان لپاره نظامي مرسته امکان لري چې زیاته شي ځکه چې متحده ایالات خپل هغه پروګرام تطبیقوي چې د افغان ځواکونو کچه او استعداد زیات کړي. د دفاع وزارت (ډی او ډي) دا زیاتره بودیجې سمبالوي، کومې چې د تجهیزاتو او اکمالاتو د رسولو او همداراز د روزنې لپاره کارول کېږي، خو د بهرنیو چارو وزارت هم ځینو امنیتي پروژو ته پیسې ورکوي. د بېلګې په توګه، د بهرنیو چارو وزارت د هغو ملکي قراردادیانو لپاره بودیجې او د قرارداد نظارت برابروي چې د پولیسو د روزنو لپاره په کار اچول شوي. لدې امله چې د پوځ او پولیسو د کومک د پروګرامونو کچه زیاته ده، سیګار به په دې برخه کې خپل د پلټنې کار د یوې داسې پراخه سروې سره پیل کړي چې د پلټنې مسلې او لومړیتوبونه پکې وپېژني.

### د پرمختیایي سکټور د اغېزمنتیا جامع کتنه

پرمختیا د ANDS د دریو څخه دویمه ستن ده. پرمختیایي پروژې او پروګرامونه د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې څخه له امنیت وروسته د بودیجو دویمه تر ټولو ستره برخه ترلاسه کوي. متحده ایالاتو دې ستنې ته شاوخوا 6 ملیارده ډالر بیل کړي دي. د پرمختیایي پروګرامونو هدف دا دی چې د افغانانو د ژوند د معیار په بهترولو سره د بنسټپالو عناصرو اثرورسوخ ضعیف کړي. چیلنج دا دی چې دا پرمختیایي مرسته د افغانستان د ادارو د ظرفیت سره متوازن کړای شي چې په اغېزمن ډول یې اداره کړي.

سیګار به د بېلابېلو ادارو د بیا رغونې د هغو هڅو جامع پلټنې ترسره کړي چې تمرکز یې پر مشخصو پرمختیایي سکټورونو، لکه روغتیا، زده کړه، انرژي، ترانسپورټ، او زراعت، وي. نړیوالې پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداره (USAID) د دې سکټورونو سره زیاته مرسته کوي، خو نورې ادارې هم، په ګډون د دفاع د وزارت، هم پرمختیایي پروژې لري. د بېلګې په توګه، د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) د بشري او پرمختیایي سکټورونو مرسته کوي. د سیګار کتنې به د بودیجو څېړنه کوي، او دا چې څرنګه د متحده ایالاتو ادارې او نړیوال مرستندویان خپلې هڅې

انسجاموي، او دا چې ایا دا پروګرامونه خپل مطلوبه نتایج ترلاسه کوي که نه، او کوم چیلنجونه ورته په مخکې پراته دي. دا راپورونه به په مهمو سکټورونو کې د متحده ایالاتو د بیا رغوني د پروګرامونو د بحث لپاره یو بنسټ برابر کړي چې کانګرس ته د سیګار په درې میاشتنیو راپورونو کې به وړاندې شي. سیګار د دې پلټنو د ترسره کولو لپاره په بهتر حیثیت کې دی ځکه چې، لکه د GOA، دا هم د بین الاداري پروګرامونو د پلټنې واک لري. د ادارو عمومي پلټونکي په خپل دې توان کې محدود دي چې د نورو ادارو د پروګرامونو پلټنه وکړي.

سیګار د جامع پلټنو دا سلسله د انرژۍ د سکټور څخه پیل کړه. **د انرژۍ په سکټور کې د بیا رغونې د هڅو د اغېزمنتیا د پلټنې اهداف دا دي چې:**

- د افغانستان د انرژي سکټور د بیا رغوني او دوام لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو اهداف وپېژندل شي
- د کاري وړتیا هغه معیارونه وپیژندل شي چې د دې خبرې د معلوموللو لپاره کارول کېږي چې د پروژې معیارونه او نتایج په مناسبه توګه تعقیب شوي
- ANDS سره د انرژي سکټور د بیا رغوني د هڅو د پرمختګ او نتایجو ارزونه وشي
- د انرژي سکټور په بیا رغونه کې د متحده ایالاتو او نړیوالو ادارو ترمنځ د انسجام ارزونه وشي
- د فیصلې کولو په پروسه او د بیا رغوني د پروګرامونو په تطبیقولو کې د افغانانو د ګډون ارزونه وشي

وروسته نورې پلټنې به په نورو سکټورونو کې د بیا رغوني د هڅو د اغېزمنتیا تحقیق وکړي، په ګډون د زراعت، زده کړې، روغتیا، ترانسپورت، او اوبو.

**د دولتداری د سکټور جامع کتنې**

دولتداري د ANDS دریمه ستن ده. د متحده ایالاتو د هڅو تمرکز د دولت د ظرفیت پر لوړولو، د شفافیت پر زیاتولو، او په افغانستان کې د قانون د حاکمیت په اداره کولو دی. د اګست 2009 د ټولټاکنو د اهمیت له امله، د دولتداری په سکټور کې د سیګار لومړنی پلټنه د بیا رغوني د هغو هڅو د اغېزمنتیا معاینه کوي چې د ټولټاکنو د چمتووالي او ترسره کولو د مرستې لپاره دي. په افغانستان کې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو د چمتووالي او ترسره کوولو لپاره د متحده ایالاتو د مرستې دا کتنه به دوه راپورونه چمتو کړي. لومړنی، چې تمرکز به یې د ټولټاکنو په تیاري او ټولټاکنو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوال ملاتړ پر انسجام وي، به د ټولټاکنو څخه مخکې خپور شي. دویم راپور، چې د ټولټاکنو څخه به وروسته خپرېږي، به د ټولټاکنو ترسره کېده تحلیل کړي. د دې کتنې اهداف دي:

- د ټولټاکنو د هغې مرستې پېژندل چې بودیجې ورته د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې لخوا ورکړل شوي
- د ټولټاکنو د چمتو کولو لپاره د متحده ایالاتو او نړیوالو په بودیجو د فعالیتونو ترمنځ دعمومي انسجام ارزونه
- د ټولټاکنو د تیاري د مختلفو اړخونو د عمومي اغېزمنتیا ارزونه، په ګډون د رایه ورکوونکو د ثبتوني، د رایه ورکوونکیو زده کړه، د رایه ورکولو د مرکزونو امنیت، د رایه ورکولو د بکسونو یوشان والی، او د رایو د شمېرلو د پروسیجرونو

- د ټولټاکنو د پروسې پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې پیژندل

- د زده شویو تجربو پیژندل چې ښایي په راتلونکو ټولټاکنو کې ترې کار واخیستل شي

د دولتداری په سکټور کې وروسته پلټني به د بیا رغوني د هغو پروګرامونو معاینه وکړي چې د قانون د حاکمیت لپاره دي، هغه پروژې چې د خپلواکو رسنیو د ملاتړ لپاره دي، او هغه پروګرامونه چې د افغانستان د وزارتونو دننه د نظارت د ادارو د جوړولو لپاره دي.

**قراردادي او د قرارداد پلټني**

د سیګار د واک ورکولو قانون سازي د دې نه غوښتنه کوي چې د مشخصو قراردادیانو د استعمال کتنه وکړي او د جلا جلا قراردادونو هدفي پلټني ترسره کړي. پلټونکي به د قراردادي پروسیجرونو، د قراردادي د کاري چارو، او د قرارداد په اړه د اداري د نظارت د مراعاتولو ارزونه کوي. سیګار تمه لري چې دا کار به د قرارداد کولو او سمبالښت په پروسه کې د بهترۍ نتیجه ورکړي او ښایي د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال خطرونو ته لارې هوارې کړي.

سیګار د قراردادونو د نظارت لپاره د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو د عمومي پلټونکیو، د USAID د عمومي پلټونکی، د GOA، او ګڼ شمېر نورو پلټیزو ادارو سره مسوولیتونه شریکوي. خو، د صلاحیت ورکولو قانون سازي سیګار ته دا هدف ورکوي چې د قرارداد د پلټنو لپاره جامع پلانونه تیار کړي، په ګډون د امنیتي قراردادي د پلټنو، کوم چې به دا او نور عمومي پلټونکي ترسره کوي. سیګار به د دې خبرې په یقیني کولو کې د مشرتابه رول لوبوي چې قراردادونو مناسبې پلټنې شوې وي. سیګار به د خپلو پلټنو انتخاب د نورو عمومي پلټونکیو د کار او هغو معلوماتو پر بنسټ کوي چې د هغو قراردادیانو او قراردادونو په اړه ترلاسه شوي وي چې نظارت غواړي. برسېره پر دې، سیګار به د ټولو قراردادونو په اړه د بیا رغوني د ادارو څخه ډاټا راغونډوي چې د لومړیتوبونو په معلوماتو کې مرسته وکړي. سیګار به د دې کال تر پای د قراردادونو او امنیتي قراردادیانو د پلټنو لپاره غوښتل شوی پلان بشپړ کړي.

په عین حال کې، **سیګار د سامانونو او غیر امنیتي خدمتونو لپاره د منتخبو قراردادیانو د نظارت او کار په اړه د پلټنو** یوه سلسله پیل کړې ده. دا به یوه روانه هڅه وي چې راپورونه به یې په هرو 4-6 میاشتنو کې خپرېږي. سیګار به د ټولو موجوده قراردادیانو د کار یو لیست بشپړ کړي؛ په عین وخت کې به پلټونکي د قراردادیانو جلا جلا پلټنې پیل کړي. سیګار به وخت په وخت د هغو مشاهدو او سپارښتنو د راپورونو لنډیزونه خپروي چې د دې پلټنو د نتیجې په توګه مخې ته راځي. سیګار به همداراز د قراردادي د کار او د قرارداد د پروسیجر د مراعاتولو ارزونه هم وکړي.

د قراردادي لومړنۍ پلټنه د متحده ایالاتو د ادارو لخوا د بیا رغوني د پروګرامونو لپاره د لویس برګر ګروپ د کارولو معاینه کوي. د دې پلټنې اهداف دي:

- قراردادي سره د قراردادونو شمېره او کچه معلومول

- د قراردادي او قراردادي د کار په اړه د ادارو د نظارت ارزول

هر کله هم چې د قراردادیانو د نظارت او کاري چارو په اړه کار جدي کمزورۍ رابرسېره کړي، نو سیګار به د جلا جلا قراردادونو **د تمرکزي قرارداد** د پلټنو په ترسره کولو غور وکړي. په دې کې ښایي شامل وي د مخکې له قرارداد ورکولو پروسې کتل، پس له قرارداد کولو پلټنه او د قراردادي د داخلي کنټرول د سیسټم کتنه کول.

سیګار به همداراز په جون 2009 کې په پیل کولو سره د امنیتي قراردادیانو د کارولو په اړه د پلټنو یوه سلسله پیل کړي.

## داخلی کنټرولونه او احتساب

سیګار به داسې پلټنې ترسره کړي چې د بیا رغونې په پروګرام کې د متحده ایالاتو د تطبیقي ادارو او افغان دولت د داخلي کنټرولونو او احتساب تکاملي جاج واخلي. هدف یې په دې کمزوریو سره د فساد په وړاندې د کنټرول کمزورۍ او خامې معلومول دي. راپورونه به د احتساب د بهترولو لپاره مشخصې سپارښتنې ورکوي او ښایي د نورې څېړنې لامل شي.

سیګار په دې برخه کې دوه پلټنې پیل کړې دي. لومړنۍ پلټنه **د قوماندان د بیړني ځواب د پروګرام (CERP) د احتساب او کنټرول تکاملي جاج اخیستل دي.** دا کتنه به:

- په کار د اچول شویو کنټرولونو او پروسیجرونو معاینه کوي چې د CERP د بودیجو احتساب یقیني کړي

- دا معلومه کړي چې د CERP بودیجې د کانګرس د واک ورکولو او هغو ادارو سره څرنګه کارول کېږي چې د پروګرام په اهدافو او د مشن په ستراتیژیو کې یې خاکه وړاندې شوې ده

دویمه پلټنه د **هغه نظارت او سمبالښت معاینه کوي چې د بیا رغونې د مهمو ادارو لخوا برابر کړای شوي دي.** په دې پراخه ارزونه کې چې ادارې څرنګه د بیا رغونې پروګرام سمبالوي کې به معاینه اخیستل شامل وي د:

- د بودیجو پر غلطیو کنټرولونه او احتساب
- د پروژې پراختیا او سمبالښت
- د کاري وړتیا معیارونه
- قراردادیانو او د متحده ایالاتو د حکومت پرسونل ته د بودیجو د فعالیتونو ټاکنه

د دې کار د برخې په توګه، د سیګار د لومړنۍ پلټنې راپور، کوم چې د هغه قرارداد د نظارت معاینه کوي چې د ګډې امنیتي انتقالي قوماندې-افغانستان (CSTC-A) لخوا ترسره شوی، به د 2009 د مارچ په میاشت کې خپره شي. CSTC-A، د افغان دولت او د متحده ایالاتو د ایتلافي ملګرو سره په ملګرتیا کې، د دفاع د وزارت هغه قومانده ده چې د مستعدو افغان ملي امنیتي ځواکونو د جوړولو لپاره د متحده ایالاتو د پروګرامونو د سمبالښت مسوولیت پر غاړه لري. سیګار اړوندو ادارو ته د هغوی د کتنې لپاره د راپور مسوده ورکړې ده او CSTC-A ته د داسې عمل د سپارښتنې په ورکولو غور کوي چې د قراردادیانو د کاري روزنې او ورسره تړلو خدمتونو نظارت بهتر کړي.

## د بیا رغونې ستراتیژي، پلان جوړونه، او نظارت

سیګار فکر کوي چې دا خبره ګټوره ده چې د ستراتیژۍ، پلان جوړلو، او نظارت هغو مسلو ته کتنه وکړي چې د بیا رغونې د ټولې هڅې سره تړلې دي. لدې امله، سیګار به د هغو آلاتو ارزونه کوي چې د متحده ایالاتو د ادارو، د نړیوالې مرستندویه ټولنې، او افغان دولت لخوا د دې لپاره کارول کېږي چې په مجموع کې بیا رغونه پلان کړي، سمبال کړي، او نظارت یې وکړي.

پلټونکي دا مهال **د متحده ایالاتو د حکومت د معلوماتو د هغو سیستمونو د توان یوه ارزونه ترسره کوي چې فیصله کوونکیو ته ډاټا او د سمبالښت معلومات ورکوي.** د دې کتنې هدف دا خبره معلومول دي چې د معلوماتو د سمبالښت سیستمونه څرنګه د دې لپاره کارول کیږي چې په افغانستان کې د بیا رغوني هڅې تعقیب او راپور کړي. دا به:

- هغه سیستمونه وپېژني چې د بیا رغوني د معلوماتو د سمبالولو لپاره کارول کیږي
- هغه حد وټاکي په کوم کې چې دا سیستمونه مربوطیږي
- د دې یقیني کولو لپاره د متحده ایالاتو د ادارو مسوولیتونه معلوم کړي چې مربوطه، دقیقه، او بشپړه ډاټا راغونډه کړای شوې او په دې سیستمونو کې کارول شوې ده

## د اغېزمن نظارت یقیني کول

برسېره د خپلو پلټنو په ترسره کولو، سیګار به د لاندې چارو په ترسره کولو سره په افغانستان کې د بیا رغوني د پروګرامونو عمومي نظارت ته د ودې ورکولو لپاره هم کار وکړي:

- د کانګرس او د فیصله کوونکیو د اجرایي څانګې سره کتل چې د هغوی د نظارت اړتیاوې ورسره بحث کړای شي
- د اړوندو عمومي پلټونکیو او د حکومت د پلټنې د ټولنې سره ارتباط ساتل چې د کارونو نقل کم کړای شي
- د پلټنو هغه چارې پېژندل چې د نظارت د هرې ادارې لخوا ترسره شوې دي
- هغه پروګرامونه او یا د پروګرامونو هغه اړخونه پېژندل چې ښایي مناسب نظارت یې نه کیږي

سیګار د عمومي متفشانو د ټولنې او د GOA سره د یو شمېر رسمي او غیر رسمي طریقو له لارې په ارتباط کې وي. سیګار د مربوطیا او اغېزمنتیا لپاره د عمومي پلټونکیو د شورا او د جنوب لویدیځې اسیا د ګډ پلان جوړوني د ډلې (SWA/JPG) غړی دی. SWA/JPG د جنوب لویدیځې اسیا په منطقه کې د نظارت د اوسنیو او پلان شویو هڅو د بحث کولو یو فوروم دی، په کوم کې چې افغانستان شامل دی. سیګار تل د دفاع، بهرنیو چارو د وزارت، او د USAID د عمومي پلټونکیو او د GOA سره په ارتباط کې وي چې پلان شوې او راتلونکي پلټنې ورسره انسجام کړي. سیګار د دې عمومي پلټونکیو او د GOA د استازو سره هم کار کوي چې د SWA/JPG دننه د نظارت د انسجام ضمني ډله جوړه کړي چې د اړتیا پر بنسټ وویني تر څو افغانستان سره د مشخص نظارت مسلې انسجام کړي.

## ساینسي پلټنه

په سیګار لازمه ده چې د هغو پروګرامونو او فعالیتونو په اړه یو اخري ساینسي د پلټنې راپور جوړ کړي چې بودیجې ورته د هغو پیسو نه ورکړل شوي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص شوي او یا په بل ډول په لاس کې ورکړل شوي. د 2009 پر مهال، سیګار به د دې ساینسي پلټنې د بشپړولو لپاره خپل پلان جوړ کړي. د دې هڅې مهم توکي به دا وي:

- د ټولو قراردادونو ډاټا راغونډول او دا معلومول چې هغه څرنګه سمبالیږي
- داسې پلټونکي پر کار ګومارل چې د قراردادونو د پالیسیو، قواعدو، او پروسیجرونو، او په ساینسي پلټنو او د دوکې په معلومولو او کشفولو کې تجربه ولري
- د قرارداد پلټنې ترسره کول
- د هغو قراردادي پلټنو کتنه چې د نورو ادارو لخوا ترسره شوي وي
- د عراق د بیا رغونې لپاره د ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګیر) د هڅو کتنه چې دې ته ورته قانوني غوښتنه پوره کړای شي

## معاینې

د دې راپور ورکولو پر مهال، د سیګار د معاینو ریاست د خپلو کارکوونکو شمیر څلورو تنو ته زیات کړل.

د معاینو ریاست خپل اخري ستراتیژیک پلان جوړ کړ او د مالي کال 2009 لپاره یې یو مربوط کاري پلان تیار کړ. چې یو ځای کړای شي نو دا دواړه اسناد به د پاتې کال لپاره د سیګار د معاینو د ریاست د کار او لومړیتوبونو لارښودنه وکړي.

د معاینې ټیمونو همداراز د بیا رغونې د څو ځایونو سفرونه بشپړ کړل، کوم چې سیګار ته اجازه ورکړه چې معلومه کړي چې دا خبره احتمال لري چې په ټول افغانستان کې معاینې ترسره کړای شي. سیګار یو معیار هم جوړ کړی دی چې د دې د معاینې ټیمونه به یې د پروژو د تکاملي جاج لپاره کاروي.

یو راپور چې په پروان او کاپیسا ولایتونو کې د CERP-د بودیجې په پروژو د ځایونو د سفرونو څخه موندنې جمع کوي د اخري کتنې او تبصرې لپاره تیاریږي. د دې تمه کیږي چې دا راپور به په می 2009 کې تمام شي.

### د معاینې لومړیتوبونه

سیګار به په دې څلورو برخو کې معاینې ترسره کوي:

- د انفراسټرکچر او بیا رغونې سره تړلې پروژې
- د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو (پي ار ټیمونو) د سمبالښت اړخونه
- د تماس د شمیرې/د شکایتونو د سمبالښت د سیستم فعالیت
- د حقیقتونو د موندلو د کار تېز ځواب

## د تېز ځواب د معاينې فعاليتونه

په تېرو درېو مياشتو کې، د سيګار د تېز ځواب د معاينې ټيمونو د باګرام، کندهار، او خوست څخه وليدل څو د افغانستان په ليرې پرتو سيمو کې د ميداني کار د ترسره کولو د احتمال ارزونه وکړي. د سيګار د تېز ځواب د معاينې ټيم جاج واخيست چې:

- د سيګار د پرسونل لپاره امنيت ضروري دی چې به ولايتونو کې د پروژو معاينه وکړي
- د پروژو د اسنادو، قرارداديانو او تطبيقوونکيو موجودګي
- د ميداني کار د ترسره کولو لپاره لوژيستيکو او ملاتړ ته اړتيا ده
- د پروژو دوامداري

د USFOR-A او CJTF-101 سره ترون سيګار ته توان ورکوي چې د امنيت سره تړليو خنډونو باندې برى ومومي او د باګرام هوايي اډې او کندهار هوايي اډې څخه ضروري ميداني معايني ترسره کړي. سيګار په دواړو موقعيتونو کې دفترونه او د اوسېدو ځايونه خوندي کړي دي.



افغان مېرمنې په نومبر 2008 کې د زعفرانو د بوټو په کرلو کې برخه اخلي

د دې د احتمال د ارزونې د برخې په توګه، د سيګار د تېز ځواب د معاينې ټيم د CERP د بوديجو د درېو زراعتي پروګرامونو د باګرام په منطقه کې تکاملي جاج واخيست او د همدغې اداري په بوديجه د انرژۍ يوې پروژې يې د خوست په ولايت کې. په زراعتي پروژو کې، چې ټولې د شاوخوا دوه سوه زره ډالرو د ارزښت وې، دا شاملې وې **1) د کاپيسا ولايت د ښځو د زعفرانو د توليد پروژه، 2) د کاپيسا او پروان ولايتونو لپاره د څاروو د روغتيا د معلوماتو د کمپاين پروژه، او 3) د جان قدم-باګرام د ځمکې د هوارولو او د انګورو د باغ د دېوال پروژه.** سيګار د ابتدايي کتنې لپاره دا پروژې انتخاب کړې ځکه چې زراعتي سکټور د افغانستان په اقتصاد کې مهم رول لري او ځکه چې دا پروژې د ښيا رغونې د مهمو مسلو سره ترون لري لکه د ظرفيت جوړول، روغتيا او غذا، جنسي برابري، او د اپيمو د کر په وړاندې د بديل معيشت پيدا کول.

د سيګار د تېز ځواب ټيم همدارنګه د CERP په بوديجه **د خوست د برقي ګريډ او برېښنا د شبکې د ترفيع د پروژې** څخه هم ليدنه وکړه. سيګار د دې پروژې څخه ليدنه د دې لپاره غوره کړه چې دا په خوست کې د افغانستان او پاکستان د پولې سره نږدې په يوه مرکزي موقعيت کې ده، دا د متحده ايالاتو د يوه نظامي مرکز (د ساليرنو مرکز) سره په خوا کې ده، او لدې امله چې ANDS کې د برېښنا د توليد او ويش پر ارزښت زور اچول شوى دى.

ANDS د انرژۍ د سکټور پرمختیا د غربت د کمولو او د خصوصي سکټور او کلیوالي پرمختیا د پیاوړې کولو لپاره د یو شرط په توګه پېژندلي ده. دا د 2010 تر پای پورې په غټو ښاري سیمو کې 65 سلنه کورونو او په کلیوالیو سیمو کې 25 سلنه کورونو ته د برېښنا د تولید او ویش غوښتنه کوي.



په جنوري 2009 کې د خوست د برېښنایي پلانټ اصلي حالت

د ځایونو څخه دې لیدنو دا مسلسل ضرورت ولید چې په کوچنیو او سترو پروژو کې د دوامدارۍ مسلې حل کړای شي. په داسې حال کط چې د کاپیسا ولایت د ښځو د زعفرانو د تولید پروژې په بریالیتوب سره 23 بااستعداده ښځې وروزلې چې د زعفرانو تخم وکري، پروسه یې کړي، او په ګټه یې وپلوري، خو دا تراوسه په دې نده توانېدلي چې په خپله دوام وکړي. دا په وخت او د بودیجې دننه بشپړه کړای شوې وه او د کاپیسا ولایت د ښځو د چارو وزارت ته ورکړای شوې وه چې خپل فعالیتونو ته دوام ورکړي. خو، د ښځو د چارو د وزارت استازو وویل دا وزارت هغه سرچینې نلري چې دا یې په هغو دوو کلونو کې د دې پروګرام د دوام لپاره ورته اړتیا لري مخکې لدې چې دا په خپله په بشپړ ډول پر ځان متکي شي. هغه پي ار ټي چې دا پروژه یې پیل کړې وه د دې پروژې لپاره نورې کومې بودیجې ندي پېژندلې. له اضافي سرچینو پرته، د دې احتمال نشته چې دا پروژه خپل دا هدف ترلاسه کړي چې په خپله د دوام پروګرام جوړ شي.

سیګار همداراز د خوست د برقي ګرید او د برېښنا د شبکې د ترفیع په پروژه کې د دوامدارۍ جدي مسلې وپېژندلې. کله چې دا پروژه، چې لګښت یې 1 ملیون ډالر و، په سپتمبر 2008 کې د انرژۍ او اوبو لپاره د خوست ولایتي مسوول ته وسپارل شوه، نو ټولو دریو نویو نصب شویو جنراتورونو په سم ډول کار کاوه. خو، د 2009 په مارچ کې دغه ځای څخه د سیګار د لیدنې پر مهال، یواځې یو جنراتور فعالیت کاوه او یواځې د 60 سلنې په ظرفیت چلېده. د پروژو د اسنادو څخه معلومه شوه چې دا جنراتورونه هر یو د 116000 ډالرو د لګښت ول. د پروژې منیجر سیګار ته وویل چې دوو جنراتورونو کار نه کاوه ځکه چې ځینې برخې یې ورکې وې. سیګار پلان لري چې د دې پروژې د یوې لا جامعي معاینې په واسطه د دوامدارۍ د هغو مسلو معاینه وکړي چې د ځای د سفر پر مهال راوچتې شوې دي. (د پلان شویو معاینو د لیست لپاره ضمیمه ت وګورئ).

د ځایونو دې سفرونو اساساً د سیګار سره مرسته وکړه چې په میدان کې د څېړنو د ترسره کولو احتمال معلوم کړي، د بیا رغونې ستر چیلنجونه وپېژني او د معاینو پلان جوړ کړي.

## د انفراسټرکچر د رغونې معاینه

د سیګار د زیات معایناتي کار تمرکز په مهمو سکټورونو لکه انرژي، روغتیایي پاملرنه، زراعت، زده کړه، او امنیت کې د متحده ایالاتو په بودیجو د انفراسټرکچر په بشپړو شویو او روانو پروژو دی. دا معایني د دې لپاره جوړې شوې دي چې په دې سکټورونو کې د معاینې فعالیتونه ورسره یو ځای کړي.

د معاینې په ټیمونو کې شامل وي مسلکي انجنیران، پلټونکي، او د پروګرام تحلیل کوونکي. د ودانیو او د رغونې د ځایونو معاینې د دې لپاره جوړې شوي چې دا معلومه کړي چې ایا کار په وخت او د بودیجې دننه شوی و، او هغه مواد پکې کارول شوي چې په قرارداد کې غوښتل شوي ول. د ټولو معاینو یو مهم هدف د دې خبرې ارزونه کول دي چې ایا یوه اسانتیا هغسې کارول شوې چې پکار وه او د سیمییزو خلکو او سیمییز مقام لخوا په مناسب ډول انتظام شوې.



د خوست برېښنايي پلانټ په جون 2008 کې د نویو جنراتورونو او برېښنا ورکوونکیو له نصبولو وروسته

## د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو (پي ار ټیمونو) د سمبالښت د اړخونو معاینې

سیګار به د پي ار ټیمونو د سمبالښت معاینې د دې کال د مي په میاشت کې پیل کړي. ګڼ شمېر پي ار ټیمونو ته د ابتدایي سفرونو او د پي ار ټي د منیجرانو سره د مشورې پر بنسټ، سیګار د سمبالښت د مسلو یو معیار چیک لیست اصلاح کولو ته ادامه ورکوي چې دا اراده لري ارزونه یې وکړي. په دې کې شامل دي داسې مهم ښودونکي لکه د عملي بین الاداري کچې، د مخابراتو معیار (انټرنیټ، ګرځنده تلیفون او د ځمکني تلیفون پیوستون)، د کمپیوټر د هارډویر او سافټ ویر موجودګي، د ژوند ملاتړ، او د ټیم مورال. دا معاینه به هغه چیلنجونه هم وپېژني چې د پي ار ټي د پروګرام مشاوران ورسره مخ دي. سیګار پلان لري چې د 2009 له پای مخکې د څلورو پي ار ټیمونو جامع معاینې بشپړې کړي او اراده لري چې په راتلونکو دوو کلونو کې د ټولو پي ار ټیمونو معاینه وکړي.

## د تماس شمېره/ د شکایتونو د سمبالښت سیستم

سیګار خپله د تماس شمېره|د شکایتونو د سمبالښت سیستم پراخ کړی دی چې د متحده ایالاتو د حکومت مامورینو، قراردادیانو، ایتلافي ملګرو پرسونل، او د افغانستان اتباعو ته یو شمېر لارې ورکړې چې چې د دوکې، ضیاع، غلط انتظام، او انتقام تورونه پورې راپور کړي. په افغانستان کې سیګار یوه د افغانستان ګرځنده تلیفوني کرښه لري، د دفاع د وزارت د ملکي او نظامي پرسونل لپاره یوه د ډي ایس این کرښه، او یوه نړیواله تلیفوني کرښه. په متحده ایالاتو کې سیګار یوه بله ډي ایس این کرښه لري، یو خوندي وقف فاکس کرښه، او یو وقف برېښلیک. شکایتونه د نوم په نه ښودلو سره د سیګار د وېبپاڼې له لارې هم داخلېدای شي. سیګار په افغانستان کې د غږ لیک په درېو ژبو کې جوړ کړی دی – دري، پښتو، او انګلیسي – څو زنګ وهونکیو ته موقع ورکړي چې خپل شکایت راپور کړي. د غږ لیک زنګ وهونکیو ته د سیګار د وېبپاڼې حواله هم ورکوي.

سیګار له جنوري 2009 راهیسې د تماس د شمېرې|د شکایتونو د سمبالښت د سیستم له لارې څلور شکایتونه ترلاسه کړي دي. سیګار معلومه کړې چې د دې شکایتونو څخه دوو اعتبار نه درلود، او د دوو نورو په اړه څېړنه کوي چې معلومه کړي ایا په دغو تورونو کې اعتبار شته که نه. هغه ټول شکایتونه چې معلومه شي چې اعتبار لري به، که مناسب وي، د سیګار د عملي او یا د نورو عمومي پلټونکیو او یا د مسوولو ادارو د کتنې لپاره لېږل کېږي.

سیګار همداراز د تماس پوسترې په درېو ژبو - انګلیسي، دري، او پښتو – د متحده ایالاتو د حکومت په دفترونو، نظامي مرکزونو، په کابل کې د متحده ایالاتو په سفارت، د سفارت پر سیمییزو دفترونو، پي ار ټیمونو، او د وظیفو پر هغو ځایونو ویشي چې بودیجې یې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیا رغوني له پیسو ورکړل شوي دي. سیګار د ټولو ترلاسه شویو شکایتونو یو بشپړ ریکارډ ساتي. د دې تماس لارو په اړه اضافي معلومات په دې وېبپاڼه موجود دي .www.sigar.mil/fraud

## د تېز ځواب د حقیقت موندنې معاینې

سیګار به هغه وخت د تېز ځواب د حقیقت موندنې معاینې ترسره کوي کله چې دا خبره نه ضروري وي او نه عملي کېدونکې چې جامع معاینه یا پلټنه ترسره کړي. دا تېزې معاینې به سیګار وتوانوي چې د سیګار د مشرتابه د ملاتړ لپاره به په وخت معلومات برابر کړي او یا د متحده ایالاتو د کانګرس، د بهرنیو چارو او دفاع د سکرتریانو، او یا هغو نورو حکومتي ادارو چې په افغانستان کې کار کوي غوښتنو ته په تېزۍ ځواب ووایي.

# <u>څېړنې</u>

له جنوري 2009 راهيسې، سيګار په افغانستان کې دوه تنه څېړونکې ځای پر ځای کړي دي، او په څلورو قضيو کې يې د ګډوډيو او خرابيو د تورونو ابتدايي پلټني پيل کړې دي.

سيګار همداراز په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ګڼ شمېر قانون نافذوونکو ادارو ترمنځ د انسجام او همکارۍ د بهترۍ په کار کې پاملرنه کوي. د دې هڅې د برخې په توګه، دې په دې اړه کار کړی چې د قرارداد د فساد نړيوال هدف ځواک (ICCTF) مربوط او پراخ کړي.

**د قرارداد د فساد نړيوال هدف ځواک (ICCTF)**

پر سيګار برسېره، په ICCTF کې شامل دي د دفاع د جنايي تحقيق خدمت (DCIS)؛ د تحقيقاتو مرکزي اداره (FBI)؛ او د متحده ايالاتو د پوځ د جنايي تحقيقاتو قومانده (CID). د سيګار څېړونکی په باګرام هوايي ډګر کې د ICCTF د مرکزي دفتر څخه کار کوي. له هغه وخته چې سيګار رارسېدلی، ICCTF د کابل په CSTC-A کې يو نوی دفتر جوړ کړی او پلان لري چې يو بل په کندهار کې جوړ کړي. په ICCTF کې د سيګار ملګرو ادارو خپل پرسونل زيات کړی دی چې دې نويو دفترونو ته عمله برابر کړي. ICCTF د متحده ايالاتو د هوايي ځواک د ځانګړيو تحقيقاتو دفتر (OSI) ته هم بلنه ورکړې چې په ICCTF کې برخه واخلي.

د څېړنو رياست، کوم چې د افغانستان په بيا رغونه کې د جنايي او ملکي خراب چلند د څېړنې مسووليت پر غاړه لري، سيګار ته پر هغو ټولو معاملو مشوره ورکوي چې د متحده ايالاتو د مرکزي قانون او محاکمې سره تړلي وي. يا د نورو او يا د خپلواکو څېړنو له لارې دا رياست د ملکي او جنايي قضيو د متحده ايالاتو د لوی څارنوال دفتر ته د وړاندې کولو لپاره معاينه کوي، جوړوي او يا چمتو کوي. د دې څېړنو تمرکز پر مالي جرمونو دی، داسې لکه په مرکزي قراردادونو کې دوکه او فساد، کوم چې نبغ په نبغه د سيګار د نظارت د مشن سره تړاو لري. که ضرورت وي نو سيګار خپلې څېړنې د متحده ايالاتو او نورو ايتلافيانو د قانون نافذوونکو ادارو سره په ارتباط کې اچوي تر څو د هڅو د نقل مخنيوی وشي.

د څېړنو د رياست په مسووليتونو کې شامل دي:

- هغه ټولې مرکې ترسره کول چې د جنايي يا ملکي تحقيقاتو سره تړاو لري
- د جنايي او ملکي سپارښتنو جوړول
- د متحده ايالاتو د څارنوال د فعاليتونو انسجام او ملاتړ
- د غوښتنې سره سم د متحده ايالاتو د څارنوال مرسته کول

- د غوښتنې سره سم د معاینو او د پلټنو د ریاستونو ملاتړ کول

## د معلوماتو سمبالښت

درې میاشتنې راپورونه

په سیګار لازمه ده چې د متحده ایالاتو کانګرس او د دفاع او بهرنیو چارو سکرتریانو ته په درې میاشتنې او نیم کلنې بنسټ خپاره شوې راپورونه وسپارې. دا راپورونه د افغانستان د بیا رغونې په تړاو د سیګار د نظارت او فعالیتونو به اړه تازه معلومات وړاندې کوې.

سیګار د ارتباط او انسجام نشتوالی د بیا رغونې د سرچینو په اغېزمن او کافي استعمال کې د یو ستر خنډ په توګه پېژندلی دی. د دې لپاره چې د دې ستونځې په حل کولو کې مرسته وشي، سیګار پلان لري چې په خپل درې میاشتنې راپور کې د بیا رغونې د ترسره شوې پرمختګ او هغو چیلنجونو په اړه یو تحلیل وکړي چې په مشخصو سکټورونو کې رامخته دي. دا برخه به، کومه چې به د هغو مختلفو پروژو سروی ګانې شاملې کړي چې د یو سکټور دننه تر کار لاندې وي، به د سیګار د پلټنو او معاینو د کار پر بنسټ وي او هغه اضافي معلومات به راواخلي چې د متحده ایالاتو د تطبیقي ادارو او هغو نړیوالو سازمانونو لخوا ورکړل شوي وي چې د افغانستان د بیا جوړولو لپاره کار کوي.

### د سیګار وېبپاڼه (www.sigar.mil)

سیګار یوه عامه وېبپاڼه لري چې د خپل نظارت د فعالیتونو په اړه پکې هر وخت تازه حال ورکوي. په دې وېبپاڼه کې د سیګار د ټولو کانګرسي بیانونو او همدارز پلټنو او معاینو یو بشپړ ارشیف شته. دا همدارز د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال د راپور کولو د ذریعې په توګه هم کار کوي.

د پلټنو او معاینې راپورونه څرنګه چې خپرېږي نو پر وېبپاڼه به ورکول کېږي. د معلوماتو خطونه، کانګرسي بیانونه، او د ځانګړي عمومي پلټونکي خطونه به هم په دې وېبپاڼه خپرېږي.

## د سیګار اندېښنې

**سیګار د متحده ایالاتو د فساد ضد هڅو په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړه**

د سیګار د نظارت د رول یوه برخه د اساسي اندېښنو مسلې راوچتول او د بیا رغونې د ادارو نه پوښتنه کول دي چې هغوی د دې مسلو د حل کولو لپاره څه کوي. سیګار په افغانستان کې فساد د یوې دغسې اندېښنې په توګه پېژندلې دی. برسېره پر دې، د افغان دولت چارواکیو په ډېرو مواقعو د خپلو فساد ضد هڅو لپاره د سیګار څخه د مرستې غوښتنه کړې ده:

- په نومبر 2008 کې، د کورنیو چارو وزیر، محمد حنیف اتمر، سیګار ته وویل هغه غواړي چې 35 نړیوال پلټونکي ولري چې په ټول هیواد کې د افغان احتساب د چارواکیو سره کار وکړي څو د فساد ضد هڅو مرسته وکړي. دې وزیر دا غوښتنه د متحده ایالاتو د سفارت د استازو په موجودګۍ کې وکړه. د اپریل 2009 په پېل کې د بهرنیو چارو د وزارت چارواکیو د سیګار سره تماس ونیو چې د کورنیو چارو د وزیر دا غوښتنه ورسره بحث کړي.

- په جنوري 2009 کې، سیګار د افغانستان د کنټرول او پلټنې د دفتر عمومي پلټونکي، پروفیسور محمد شریف شریفي، سره ولیدل او د پلټنې هغه معیارونه یې ورته تشریح کړل چې سیګار یې تعقیبوي. د دې معیارونو، چې د متحده ایالاتو د کمپټرولر جنرال لخوا جوړ شوي او په عامه توګه "ژیړ کتاب" بلل کېږي، تعقیبول د موندنو، نتیجو، او هغو سپارښتنو اعتبار ته پراختیا ورکوي چې فیصله کوونکیو ته وړاندې شوي وي. سیګار د داخلي کنټرول معیارونه – چې د "شین کتاب" په نامه پېژندل کېږي – هم بحث کړل کوم چې د کمپټرولر جنرال لخوا جوړ شوي دي. پروفیسور شریفي څرګنده کړه چې دا به ګټوره وي که دا معیارونه، یا د دې معیارونو برخې، په دري او پښتو ژبو کې موجودې وي. GOA سیګار ته خبر ورکړی چې دا معیارونه په عربي ژبه ژباړل شوي، خو په دري او پښتو نه. سیګار دا مسله د یو خط له لارې په کابل کې د متحده ایالاتو د سفارت سره مطرح کړې ده.

- په مارچ 2009 کې، ولسمشر حامد کرزي د فساد پر ضد جګړه کې سیګار نه د مرستې غوښتنه وکړه او مشوره یې راکړه چې سیګار دې د افغان دولت د فساد ضد شورا کې برخه واخلي. سیګار ښایي مبصر شي، خو د نظارت د یوې خپلواکې ادارې په توګه په دغې شورا کې ګډون نشي کولی.

په جنوري 2009 کې د دفاع وزارت راپور ورکړ چې اداري فساد د افغان دولت مشروعیت له منځه وړي او د بیا رغونې او پرمختیا نړیوالو هڅو ته زیان رسوي. د متحده ایالاتو د نوي ستراتیژیک پلان په اعلانولو کې، ولسمشر دا خبره یاده کړه چې متحده ایالات "پر هغه اداري فساد سترګې نشي پټولی چې د افغانانو اعتماد پر خپلو مشرانو کموي." هغه وویل متحده ایالات غواړي "د افغان دولت سره یو نوی تړون وکړي چې د فاسد چلند پر خلاف به کار کوي، او د نړیوالې مرستې لپاره به واضحې لایحې ټاکي تر څو دا د افغانانو د اړتیاو لپاره وکارول شي."

افغانستان کې د فساد په اړه د مخ پر زیاتېدونکې اندېښنې په رڼا کې، سیګار د متحده ایالاتو لوړپوړو چارواکیو ته یو خط لیږلی چې پکې یې د دې پروګرامونو په اړه د معلوماتو غوښتنه کړې ده:

- اوسني او پلان شوي پروګرامونه چې د افغان دولت د فساد ضد هڅو د ملاتړ لپاره وي
- د وزیر اتمر د هغو تکراري غوښتنو په ځواب کې ترسره شوي اقدامات چې هغه د 35 نړیوالو پلټونکو لپاره کړې وې چې په افغانستان کې به کار کوي
- هغه لومړیتوب چې د افغانستان د فساد ضد هڅو د عمومي بیا رغونې د ستراتیژۍ او د جلا جلا پروګرامونو لپاره ده
- هغه اداره یا اداري چې باید د افغانستان لخوا د فساد ضد استعدادونو په پیاوړي کولو کې د مرستې د غوښتنو په ځواب کې مشري کوي

د دې خبرې پېژندل چې د افغان دولت دا توان پیاوړی کول چې فساد ضد هڅې ته یو اداري شکل ورکړي د بیا رغونې د ستراتیژۍ یوه داخلي برخه ده، سیګار به یوه پلټنه ترسره کړي چې 1) د فساد پر وړاندې مبارزې لپاره د افغان دولت د ظرفیت تکاملي جاج واخلي او 2) معلومه کړي چې متحده ایالاتو او نورو مرستندویانو د دغه ظرفیت د لوړولو لپاره څه کړي دي. دا پلټنه به همداراز دا خبره ورازوي چې د متحده ایالاتو حکومت د فساد په وړاندې مبارزه کې د افغان دولت مرستې غوښتنو ته څرنګه ځواب ویلی.

**سیګار د وسلو د احتساب د مسلو په اړه د CSTC-A سره ولیدل**

د GOA د یو راپور په تعقیب چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د وسلو د احتساب کمزورۍ یې پېژندلي، سیګار د CSTC-A د قوماندې د مرستیال جنرال او د هغه د لوژیستیکو د مسوول سره ولیدل چې دا مسله ورسره مطرح کړي. د قوماندې د مرستیال جنرال له مخې، CSTC-A د متحده ایالاتو د پوځ د امنیتي مرستې د قوماندې سره کار کوي چې د هغو وسلو لپاره د سیریل لمبرو یوه سلسله جوړه کړي چې CSTC-A ته لېږدول کېږي. CSTC-A د لسو اضافي مسلکي امنیتي مرستیالو افسرانو غوښتنه کړې چې د هغو وسلو د تعقیبولو مسلې حل کړي چې افغان امنیتي ځواکونو ته ورکول کېږي. برسېره پر دې، د سیګار یو پلټونکی د د دفاع وزارت د IG د هغه ټیم سره ملګری و چې پر دې مسله کتنه ترسره کوي.

## د سيګار بيان

د 2009 د مارچ په 25مه، عمومي پلټونکي د سيګر او GOA سره يو ځای، د کانګرس د نظامي خدمتونو د کمېټې په وړاندې په دې موضوع بيان ورکړو "د تروريزم په وړاندې اغېزمنه مبارزه: څرنګه د بيا رغونې د بوديجو سم او ناسم استعمال په عراق او افغانستان کې د جګړې هڅې اغېزمنې کوي." د دې بيان پر مهال، عمومي پلټونکي د دې اهميت پر ګوته کړ:

- د بيا رغونې د هڅې د نظارت د عمومي پلټونکيو د ټولنې او د حکومت د احتساب د دفتر (GOA) سره مربوطول چې پراخ کار يقيني کړای شي

- د متحده ايالاتو، نړيوالو او افغان دولت هڅې مربوطول چې د افغانانو پرمختيايي، اقتصادي، امنيتي او نورو اړتياوې پوره کړای شي

سيګار د دفاع او بهرنيو چارو د وزارتونو، USAID، GOA، او نورو ادارو څخه د خپلو سيالانو سره کار کوي چې پلانونه ورسره شريک کړي او پلټنې، معاينې، او متوقع څېړنې مربوطې کړي.

سيګار دا خبره يادابنت کړې چې په عراق کې ترلاسه شوې ځينې تجربې ښايي په افغانستان کې تطبيق کړای شي. هغه وويل د متحده ايالاتو تطبيقوونکي ادارې بايد دا تجربې وګوري او خپلې چارې څرنګه چې مناسب وي بهترې کړي. هغه دې خبرې ته اشاره وکړه چې د عراق او افغانستان تر منځ يو مهم توپير له افغانستان سره ستره نړيواله ژمنتيا ده. هغه وويل د لا زياتې نړيوالې همکارۍ او انسجام اړتيا ده تر څو دا خبره يقيني کړای شي چې د متحده ايالاتو او نړيوالو مرستو د افغانانو د ژوند په بهترولو کې څومره زيات چې کېدلای شي اغېز کړای وي.

د کانګرس د دې علاقمندۍ په ځواب کې چې دا پروژې په افغانستان کې ښځو ته څه ګټه رسوي، سيګار به ځانګړې هڅه وکړي چې هغه پروګرامونه معلوم او کتنه يې وکړي چې د جنسي برابرۍ لپاره کار کوي.

## د سيګار بوديجه

سيګار د خپلې مالي کال 2009 د بوديجې لباره د 23 مليونه ډالرو غوښتنه وکړه. د متحده ايالاتو کانګرس د مالي کال 2008 د څلورمې درې مياشتنۍ لپاره 2 مليونه ډالر اختصاص کړل او 5 مليونه ډالر نور يې د مالي کال 2008 د ضميمه يې اختصاصونو د مالي کال 2009 لپاره. کانګرس وروسته د پياوړي امنيت، د افت د مرستې او دوامدارو اختصاصونو د قانون 2009 د لاندې په 16 مليونه ټولو اختصاص شويو بوديجو کې 9 مليونه اضافي ډالر اختصاص کړل.

دا 16 ملیونه ډالر به سیګار ته اجازه ورکړي چې د دې مالي کال په اوږدو کې شاوخوا 52 مامورین په کار وګوماري او د خدمتونو، ځای، او لوژیستیکي غوښتنو بودیجه يې ملاتړ وکړي. خو، دا د هغو 23.2 ملیونو ډالرو څخه کم دي چې په اصل کې يې د دې لپاره غوښتنه شوې وه چې د دې دفتر د نظارت فعالیتونه په اغېزمن ډول تطبیق کړي.

د بودیجې خنډونه د سیګار دا توان محدودوي چې هغه 90 تنه کارکوونکي په کار وګوماري چې د تفصیلي ارزونو، تکاملي ارزونو او تحلیل لپاره ضروري دي کوم چې د هغو 32 ملیارده ډالرو د بشري او بیا رغوني د مرستې د اغېزمن نظارت لپاره ضروري دي چې د متحده ایالاتو لخوا ورکړل شوي دي. د 2008 د دسمبر په دریمه نېټه، سیګار په رسمي توګه د مالي کال 2009 لپاره د سمبالښت او بودیجې د دفتر ضمیمه بودیجو ته د 7.2 ملیونه ډالرو غوښتنه ورکړه د دې لپاره چې د دې اداري مالي مشکل حل شي.

| اختصاص | عامه قانون | اختصاص شوې | په لاس ورکړل شوې | اخري نېټه | رقم |
|---|---|---|---|---|---|
| **د مالي کال 2008 لپاره ضمیمه يي اختصاصونه، ایچ.ار.2642** | پي.ایل. 110-252 | 2008\30\6 | 2008\30\6 | 2009\30\9 | 2 ملیونه |
| **د مالي کال 2008 لپاره ضمیمه يي اختصاصونه، ایچ.ار.2642** | پي.ایل. 110-252 | 2008\30\6 | 2008\1\10 | 2008\30\9 | 5 ملیونه |
| **پیاوړی امنیت، افتي مرستي او دوامي اختصاصونو قانون، 2009** | پي.ایل. 110-329 | 2008\30\9 | 2008\30\9 | 2010\30\9 | 9 ملیونه |
| | | | | ټولې | 16 ملیونه |

چوکاټ 2-1 – د سیګار د بودیجو لنډيز (په ملیونو ډالرو کې)

## د سيګار دفترونه او کارکوونکي

کانګرس ته د دې د اخرني درې مياشتني راپور څخه وروسته، سيګار په متحده ايالاتو او افغانستان کې د خپلې عملي او دفترونو په جوړولو کې پرمختګ کړی دی. د مرکزي پرسونل ټوله شمېره د 14 نه 32 ته لوړه کړای شوې ده. برسېره پر دې، سيګار دا مهال لس قراردادیان پر کار ګومارلي چې د دفتر په شا فعاليتونو کې مرسته وکړي لکه د درې مياشتنيو راپورونو چمتو کول. په دې شمېرو کې هغه پرسونل شامل ندی چې د سيګير څخه اخيستل شوی. لاندې چارټ د دويمې درې مياشتنی په بای کې د رياست په ترتيب د سيګار د پرسونل يوه خاکه وړاندې کوي. سيګار 20 اضافي کانديدان پېژندلي دي او تمه لري چې د دريمې درې مياشتنی تر پای به يې پر کار وګوماري.

| رياست | مامورين د جنوري 1، 2009 سره سم | مامورين د مارچ 31، 2009 سره سم |
|---|---|---|
| فعاليتونه | 5 | 6 |
| کارکوونکي | 8 | 11 |
| د معلوماتو سمبالښت | 0 | 2 |
| پلټني | 0 | 7 |
| معاينې | 1 | 4 |
| څېړنې | 0 | 2 |
| ټول | 14 | 32 |

چوکاټ 2-2 – د سيګار مامورين

### د سيګار افغانستان دفتر

د تيرې درې مياشتنی پر مهال، سيګار په افغانستان کې خپل حضور ته پراختيا ورکړه. په کابل کې د متحده ايالاتو په سفارت کې د دې د مرکز برسېره، سيګار په CSTC-A، باګرام هوايي ډګر او کندهار هوايي ډګر کې سټلايټ دفترونه جوړ کړل. دا دفترونه په ستراتيژيکو سيمو کې موقعيت لري چې د سيګار سره مرسته وکړي د افغانستان د بيا رغونې د هڅو نظارت پرته له مداخلې ترسره کړي.

## په افغانستان کې د سیګار ملاقاتونه

د دې راپور ورکولو د مودې پر مهال د افغانستان لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي افغانستان ته دوه سفرونه وکړل. هغه د افغان دولت د مهمو چارواکیو، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د مشن د لوړپوړي مشرتابه سره ولیدل چې د سیګار د نظارت مشن ورته تشریح کړي، په کوم کې چې پلټنې، معاینې او څېړنې شاملې دي. د سیګار د مباحثو تمرکز د بیا رغونې پر مسلو او د دې سازمان د اغېزمن نظارت د ترسره کولو پر ستراتیژۍ و. سیګار د لاندې خلکو سره ولیدل:

افغان چارواکي:

- د افغانستان ولسمشر حامد کرزی
- د دفاع وزیر
- د کورنیو چارو وزیر
- د مالي چارو وزیر
- د زراعت وزیر
- د برېښنا وزیر
- د هلمند ولایت والي
- د کونړ ولایت والي
- د پنجشېر ولایت مرستیال والي
- د افغانستان د ملي نظامي اکادمۍ رییس
- د خوست ولایت مرستیال والي

د متحده ایالاتو د حکومت د ادارې استازي:

- د متحده ایالاتو سفیر
- د مشن مرستیال مشر
- د USFOR-A د قوماندې جنرال

- د USFOR-A د قوماندې مرستیال جنرال
- د USFOR-A مشر انجینیر
- د متحده ایالاتو د سفیر نظامي مشاور
- د روزونکو د مشاورت ګډه ډله (CTAG) او نظامي اکادمي
- د یو ایس ایی ایي ډي د مشن مسوول
- د USAID د مشن د پروګرامونو او پروژې د پرمختیا مسوول
- د USAID د مشن کنټرولر
- د افغانستان د انجینیرۍ څانګې قوماندان
- د ګډې امنیتي قوماندې د انتقال – افغانستان قوماندان

ایتلافي ملګري:

- سیګار همداراز د ګڼ شمېر ایتلافي ملګرو سره ولیدل، په ګډون د برتانوي قوماندې د جنرال، CTAG.

# د بیا رغونې
# د بودیجو لنډیز

د بیا رغونې د بودیجو لنډیز

د متحده ایالاتو بودیجې

د تطبیقوونکې ادارې په ترتیب د متحده ایالاتو اختصاص شوې بودیجې

د مالي ډاټا پلټنه

په افغانستان کې د بیا رغونې قراردادونه

نړیواله مرسته

# 3

## د بیا رغوني د بودیجو لنډیز

د متحده ایالاتو کانګرس له مالي کال 2001 راهیسې د افغانستان د بیا رغوني لپاره 32.9 ملیارده ډالر اختصاص کړي دي. په همدې موده کې نورو ملتونو او نړیوالو سازمانونو د افغانستان د بیا رغوني لپاره د ټول شاوخوا 25.4 ملیارده ډالرو ژمنې کړې دي. دا مهال، متحده ایالات د هغه 58.3 ملیارده ډالرو 60 سلنه ورکوي چې د افغانستان لپاره د نړیوالې مرستې په شکل کې ورکړل شوي او یا یې ژمنه شوې ده.

## د بیا رغوني د بودیجو لنډیز

د افغانستان د بیا رغوني لپاره د متحده ایالاتو اختصاصونه په 2007 کې لوړې درجې ته ورسېدل. هر څو که اوسنۍ د 2009 شمېرې یو مخ کښته میلان انعکاسوي، تمه ده چې بودیجې به زیاتې شي که د 2009 د ضمیمه یې بودیجې غوښتنه د کانګرس لخوا منظوره شي.

**د متحده ایالاتو اختصاصونه په ګډون د ضمیمه یې غوښتنو په مالي کال**
**مالي کال 2001-مالي کال 2009 (په ملیونونو کې)**

| مالي کال او د عامه قانون شمېرې | اختصاص شوې بودیجې |
|---|---|
| 2001 – (پي.ایل. 107-20) | 193 |
| 2002 – (پي.ایل. 107-17) | 939 |
| 2003 – (پي.ایل 108-7، پي.ایل. 108-11) | 985 |
| 2004 – (پي.ایل. 108-106) | 462،2 |
| 2005 – (پي.ایل. 108-287، پي.ایل. 109-13) | 902،4 |
| 2006 – (پي.ایل. 109-102، پي.ایل. 109-148، پي.ایل. 109-234) | 534،3 |
| 2007 – (پي.ایل. 109-289، پي.ایل. 110-28، پي.ایل. 110-92 ، پي.ایل. 110-116، پي.ایل. 110-137، پي.ایل. 110-149) | 043،10 |
| 2008 – (پي.ایل. 110-161، پي.ایل. 110-252) | 804،5 |
| 2009 – (پي.ایل. 110-161، پي.ایل. 110-252) | 073،4 |
| **ټول** | **935،32** |

چوکاټ 3-1 – په چارټ کې ورکړل شوي معلومات د مارچ 2009 د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ورکړل شوي

## په تطبیقوونکي اداری د متحده ایالاتو اختصاص شوې بودیجې

د متحده ایالاتو دریو ادارو – د دفاع وزارت (DoD)، نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو اداري (USAID)، او د بهرنیو چارو وزارت – ته د متحده ایالاتو هغه زیاتي بودیجې ورکول کېږي چې د افغانستان د بیا رغوني لپاره اختصاص شوې وي. د دفاع وزارت او USAID په شریکه تر 27 ملیارده ډالرو زیات اداره کوي. نورو ادارو، په ګډون د زراعت د وزارت، د عدلیې، او د متحده ایالاتو د خزانې هم بودیجې ترلاسه کړې دي. له 2003 راهیسې، د متحده ایالاتو د بیا رغوني د ډالرو څخه تر 81.5 ملیارده ډالرو زیات (اندازتاً 56 سلنه) د دفاع وزارت ته اختصاص شوي دي.

**افغانستان لپاره د متحده ایالاتو اختصاص شوې بودیجې**
**مالي کال 2001 – مالي کال 2009**
(په ملیونونو کې)




افغانستان لپاره د متحده ایالاتو ټوله ژمنتیا: $ 32,935

انځور 3-1 – سیګار ته دا معلومات د دفاع وزارت، USDA، بهرنیو چارو، USAID، او نورو لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

**د دفاع وزارت ته اختصاص شوي د متحده ایالاتو بودیجې**

د دفاع وزارت په مالي کال 2008 کې د پي.ایل. 110-161 او پي.ایل. 110-252 له لارې شاوخوا 3.4 ملیارده ډالر او په مالي کال 2009 کې د پي.ایل. 110-161 او پي.ایل. 110-252 له لارې 2.5 ملیارده ډالر ترلاسه کړي چې په تېرو دوو کلونو کې ټول 5.9 ملیارده ډالر دي. د دې پیسو نه زیاتې د افغان امنیتي ځواکونو د بودیجې (ASFF) او د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام (CERP) ته تللي دي.

## د متحده ایالاتو د دفاع وزارت
### مالي کال 2001-مالي کال 2009
(په ملیونونو کې)




ټول: $ 18,519

- د افغانستان د ازادۍ د ملاتړ د قانون خاکه 2002
- د افغان امنیتي ځواکونو بودیجه
- د قوماندان د بیړني ځواب پروګرام
- د مخدره موادو ضد
- بیړنی او فوق العاده لګښت
- بشري مرسته
- فعالیتونه او انتظام
- ساینس او انجینیري
- روزنه او تجهیزونه

د

انځور 3-2 – دا معلومات سیګار ته د د دفاع وزارت لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

**د افغان امنیتي ځواکونو بودیجه**

ASFF تر 15 ملیارده زیات، او یا د 18.5 ملیارده هغه ډالرو شاوخوا 80 سلنه ترلاسه کړي چې د دفاع وزارت ته اختصاص شوي ول. ASFF د دې لپاره کارول کېږي چې افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پولیس (ANP) جوړ کړای

شي. د دې امنيتي ځواکونو لپاره د روزنې او تجهيزاتو برسېره، د بيا رغونې په پروګرام کې شامل کړای شوي دي د انفراسټرکچر پروژې چې د پوځ او پوليسو مرکزونه جوړ او ترفيع کړای شي.

د دفاع وزارت دا مهال ASFF د دې لپاره کاروي چې د ګډ انتقال د قوماندې-افغانستان (سي ايس ټي ايس-ای) د فعاليتونو ملاتړ وکړي، کوم چې اوس د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) د پرمختيا مسووليت پر غاړه لري. CSTC-A يو ګډ خدمت دی، يو ايتلافي سازمان چې نظامي پرسونل د متحده ايالاتو، انګلستان، کاناډا، پولينډ، البانيا، المان، فرانس، او رومانيا څخه لري، او همداراز قرارداد شوي ملکي مشاورين او روزونکي هم.[xiii] د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د لاندې، CSTC-A بوديجې د افغان امنيتي ځواکونو د بوديجې (ASFF) له لارې ترلاسه کوي چې ANSF ته تجهيزات ورکړي، وې روزي، او دايم يې وساتي.[xiv]

افغانستان لپاره د متحده ايالاتو د نوې ستراتيژۍ اهداف د ملي اردو او ملي پوليسو دواړو لپاره تر هغو اهدافو ډېر زيات هوډمن دي چې په افغانستان ترون کې ټاکل شوي ول. دغه ترون تر 2010 پورې د 70،000 تنه قوي اردو او 62،000 تنه قوي پوليسو غوښتنه کوي. د متحده ايالاتو نوې ستراتيژي په راتلونکيو دوو کلونو کې غواړي ملي اردو 134،000 ته زيات کړي او ملي پوليس 82،000 ته. د متحده ايالاتو حکومت شاوخوا 4000 اضافي سرتېري دې ته ګومارلي دي چې د ملي پوليسو او ملي اردو د روزونکو په توګه کار وکړي.

**د قوماندان د بېړني ځواب پروګرام**

CERP په عراق کې د هغو بوديجو سره پيل شو چې د 2003 په پسرلي کې د صدام حسين د بعث ګوند څخه ترلاسه شوې وې. د متحده ايالاتو پوځ دا قبضه شوې شتمنۍ د هغو بيړنيو پروژو لپاره وکارولې چې عراقيانو ته اساسي خدمتونه ورسوي. ولسمشر د 2003 د نومبر په 6مه د دې واک ورکړ چې مرکزي اختصاصونه د CERP د پروژو د بوديجو لپاره وکارول شي. تر هغې راورووسته، د متحده ايالاتو کانګرس په تسلسل سره د دې پروګرام بوديجې زياتې کړې دي کوم چې د القاعده پر وړاندې جګړه کې يوه مهمه وسله ګڼل کېږي.

CERP د دې لپاره نه وه جوړه شوې چې د اوږدمهاله پروژو په ځای کار وکړي يا پکې مداخله وکړي. د 2006 د ملي دفاع د واک ورکولو د قانون (پي.ايل. 109-163) له مخې، "د کانګرس نيت دی چې نظامي يونټونه دې هغه پرمختيايي او د انفراسټرکچر د رغولو پروژې په سر نه اخلي چې بوديجې ورته عموماً د بهرنيو چارو د وزارت يا USAID لخوا ورکول کېږي." پي.ايل. 109-163 د نورو شيانو تر څنګ په واضح ډول د دې ممانعت کوي چې د CERP بوديجې د سامانونو، خدمتونو، يا ملي پوځونو، ملي ساتونکو ځواکونو، د سرحدي امنيتي ځواکونو، د ملکي دفاع ځواکونو، د انفراسټرکچر د ساتنې ځواکونو، د لويو لارو د ګزمې د يونټونو، د پوليسو، ځانګړيو پوليسو، يا استخباراتي يا نورو پوليسو د بوديجو لپاره وکارول شي. برسېره پر دې، دا قانون وايي چې لومړيتوب دې هغو پروژو ته ورکړای شي چې لګښت يې تر 500000 ډالرو کم وي.

د CERP د لاندې، د کنډک قوماندانان کولای شي چې تر 25،000 ډالر په خپل واک ولګوي؛ د هدف ځواک قوماندانانو ته اجازه ده چې تر 200،000 پورې ډالر پرته له مخکي منظورۍ اخيستلو ولګوي. د 500،000 يا زياتو ډالرو د CERP د جلا جلا پروژو د منظورۍ واک په تياتر کې د CERP د پروګرام منيجر سره دی، مطلب، په افغانستان کې د ګډ هدف ځواک (CJTF) د قوماندان سره.[xv] هغه پروژې چې د CERP د بوديجو تر 2 مليونه زيات ډالر غواړي بايد د متحده ايالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان لخوا منظورې شي.

د 2006 د دفاع د صلاحیت ورکولو د قانون له مخې، CERP په لاندې برخو کې کارول کېدای شي: اوبه او پاکوالی، د خوړو تولید او ویش، زراعت\اوبه خور (په ګډون د کانالونو د پاکولو)، برېښنا، روغتیا، زده کړه، مخابرات، اقتصاد، مالي، او د سمبالښت پرمختیاوې، ترانسپورټ، د قانون حاکمیت او دولتداري، د ښاري پاکتیا هلې ځلې، د ښاري ملاتړ موټرې، د ښاري او کولتوري اسانتیاو ترمیم، د جګړې د تخریب ترمیم، د غمرازۍ پیسې ورکول، د اتلولۍ جایزې، پخوانیو قیدیانو ته پیسې ورکول، تحفظي اقدامات، نورې عاجلې بشري او د بیا رغونې پروژې، او د مهم انفراسټرکچر لپاره د عارضي قرارداد ساتونکي.

په 2006 کې، د پي.ایل. 109-163 لاندې، د CERP د ټول پروګرام چټ د 180 ملیونه ډالرو څخه په یو مالي کال کې 500 ملیونه ډالرو ته لوړ کړای شو. د پي.ایل. 110-181 د برخې 1205 لاندې، د متحده ایالاتو کانګرس CERP ته په 2008 کې د دوو اضافي کلونو لپاره بیا واک ورکړ او د بودیجو چټ یې 977.4 ملیونه ډالرو ته په یو مالي کال کې لوړ کړ.

له 2005 راهیسې، نږدې یو ملیارد ډالر د CERP د اختصاصونو څخه په افغانستان کې د وړې کچې، عاجل، بشري اسانتیا او بیا رغونې د پروژو لپاره استعمال شوې دي. لاندې چارټ، چې بنسټ یې پر هغو معلوماتو دی چې سیګار ته د دفاع د وزارت لخوا ورکړل شوي دي، په افغانستان کې د CERP استعمال انځوروي.

د سکټور په ترتیب د CERP ژمنتیاوي

| سکټور | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 | ټولي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| زراعت | $1,218,855 | $2,045,156 | $1,830,475 | $22,880,722 | $4,115,992 | $32,091,200 |
| د جګړې تخریب | $0 | $0 | $0 | $280,000 | $80,000 | $360,000 |
| د ښاري پاکوالي فعالیتونه | $228,299 | $0 | $50,000 | $56,000 | $180,354 | $514,653 |
| د ښاري ملاتړ موټري | $7,554,801 | $2,941,398 | $3,695,962 | $587,000 | $212,000 | $14,991,161 |
| اقتصادي، مالي او د سمبالښت پرمختیاوي | $3,149,916 | $0 | $641,129 | $4,348,305 | $500,000 | $8,639,350 |
| زده کړه | $15,095,563 | $8,757,083 | $23,289,892 | $50,313,860 | $2,813,165 | $100,269,563 |
| بریښنا | $1,540,501 | $3,610,062 | $6,128,273 | $13,128,246 | $0 | $24,407,082 |
| د خوړو تولید او ویش | $316,381 | $196,000 | | $63,960 | $357,099 | $933,440 |
| روغتیا | $3,458,305 | $5,225,040 | $6,019,871 | $20,908,429 | $2,163,113 | $37,774,758 |
| اوبه خور | $252,619 | $3,567,698 | $5,874,240 | $0 | $0 | $9,694,557 |
| نور عاجلي بشري او یا د بیا رغوني پروژې | $132,078 | $29,332,180 | $1,272,658 | $0 | $3,287,877 | $34,024,793 |
| تحفظي اقدامات | $0 | $0 | $244,408 | $2,261,801 | $376,489 | $2,882,698 |
| د ښاري او کولتوري اسانتیاو ترمیم | $675,921 | $614,985 | $1,787,006 | $8,130,931 | $1,477,575 | $12,686,418 |
| د هغو تخریبونو ترمیم چې د بهرنیو دعوو د قانون لخوا نه وي اکمال شوي | $0 | $69,500 | $0 | $0 | $0 | $69,500 |
| د قانون حاکمیت او دولتداري | $8,467,011 | $6,536,118 | $9,924,432 | $11,991,835 | $116,214 | $37,035,610 |
| مخابرات | $4,850,924 | $4,854,193 | $604,140 | $1,381,570 | $0 | $11,690,827 |
| ترانسپورت | $50,231,240 | $144,286,777 | $105,186,473 | $268,567,104 | $76,451,265 | $644,722,859 |
| اوبه او پاکوالي | $2,194,689 | $2,851,843 | $3,322,117 | $15,690,978 | $1,504,325 | $25,563,952 |
| ټولي | $99,369,108 | $214,890,039 | $169,873,083 | $420,592,749 | $93,637,477 | $998,362,456 |

چوکاټ 3-2 – دا معلومات سیګار ته د د دفاع وزارت لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

### د بهرنيو چارو وزارت ته اختصاص شوې د متحده ايالاتو بوديجې

د بهرنيو چارو وزارت د 2001 څخه راپدېخوا د افغانستان د بيا رغوني لپاره د ټولو 3.9 مليارده ډالرو څخه په مالي کال 2008 کې 378 مليونه ډالر او په مالي کال 2009 کې 196 مليونه ډالر ترلاسه کړل. د دې بوديجې شاوخوا نيمه د بهرنيو چارو د وزارت د نړيوالو مخدره موادو او د قانون د تنفيذ پروګرام ته تللې دي.

**د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت**
**مالي کال 2001 – مالي کال 2009**
(په مليونونو کې)




ټول: $ 4,624

انځور 3-3 دا معلومات سيګار ته د بهرنيو چارو د وزارت لخوا په مارچ\اپريل 2009 کې ورکړل شوي

### USAID ته اختصاص شوې د متحده ایالاتو بودیجې

USAID شاوخوا 1.7 ملیارد ډالر په مالي کال 2008 کې ترلاسه کړي او 1.3 ملیارد ډالر، د کومو نه چې 545 ملیونه ډالر ترلاسه شوي دي، په مالي کال 2009 کې د افغانستان د بیا رغوني لپاره د 2001 راهیسې د ټول 9 ملیارده ډالرو څخه زیات. نږدې دوه له دریو برخو د دې بودیجې د یو ایس ای ایی ډي د اقتصادي ملاتړ بودیجې ته تللې، کوم چې د ګڼ شمېر پروګرامونو لپاره پیسې ورکړې دي.

## USAID

## مالي کال 2001 – مالي کال 2009

(په ملیونونو کې)




ټول: $ 9,280

انځور 3-4 – دا معلومات سیګار ته د USAID لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

**د زراعت وزارت ته اختصاص شوې د متحده ایالاتو بودیجې**

د زراعت وزارت له 2001 راهیسې د ټولو 379 ملیونه ډالرو څخه په مالي کال 2008 کې 21 ملیونه ډالر او په مالي کال 2009 کې 12 ملیونه ډالر ترلاسه کړي دي. زراعت د افغانستان د راتلونکې پرمختیا لپاره مهم دی. په روایتي توګه، تر 50 سلنې زیات د افغانستان د اساسي کورني تولید (GDP) او نږدې 80 سلنه د دې صادرات د زراعت څخه دي. په 2008 کې، زراعتي تولیداتو د جي ډي پي تر 38 سلنې تشکیل کړ.[xvi] د افغانستان د اټکل شویو 31 ملیونه اتباعو (جون 2006) څخه د نږدې 80 سلنه د ژوند لپاره اتکا پر زراعت ده.[xvii] د زراعت د وزارت له لارې د متحده ایالاتو بودیجې اساساً د خوړو د مرستې، تخنیکي روزنې، او یو شمېر نورو پروګرامونو ته تللې دي چې افغان بزګرانو سره مرسته وکړي تر څو تر اپیمو پرته نور د بازار وړ فصلونه وکړي.

## د متحده ایالاتو د زراعت وزارت

مالي کال 2001 – مالي کال 2009

(په ملیونونو کې)




انځور 3-5 – دا معلومات سیګار ته د یو ایس ډي ای لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

**نورو ادارو ته اختصاص شوې د متحده ایالاتو بودیجې**

د عدلیې وزارت یواځینۍ بله اداره ده چې د افغانستان د بیا رغونې لپاره ورته په مالي کال 2008 او مالي کال 2009 کې بودیجې اختصاص شوې دي. د DOJ د مخدره موادو د تنفیذ ادارې په مالي کال 2008 کې 41 ملیونه ډالر او په مالي کال 2009 کې 19 ملیونه ډالر د نشه يي توکیو ضد پروګرام لپاره ترلاسه کړي.

نورې ادارې

مالي کال 2001- مالي کال 2009

(په ملیونونو کې)




ټول: $ 133

انځور 3-6 – دا معلومات سیګار ته د HHS، DoJ، او DoT لخوا په مارچ\اپریل 2009 کې ورکړل شوي

## د مالي ډاټا پلټنه

سیګار پلان لري یوه داسي پلټنه ترسره کړي چي د متحده ایالاتو د ټولو بودیجو هغه اختصاصونه، ژمنتیاوې، او لګښتونه تعقیب کړي چي د افغانستان په بیا رغونه کي کارول شوي دي. د دې پلټني د نتیجي په توګه، سیګار به په دې وتوانېږي چي د مالي کال په ترتیب، او همداراز د اداري د حساب او د بیا رغوني د سکټور او یا پروګرام په ترتیب هم د متحده ایالاتو د بودیجو د استعمال په اړه تفصیلي او باوري معلومات وړاندې کړي. دا پلټنه به سیګار په دې وتوانوي چي په تېزۍ سره د متحده ایالاتو د بودیجو د هغه رقم په اړه باوري معلومات واخلي چي په مشخصو پروګرامونو، لکه CERP، لګول شوې وي. برسېره پر دې، سیګار به په دې وتوانېږي چي د هغو بودیجو د ټولو پیسو په اړه معلومات ترلاسه کړي چي د متحده ایالاتو د بېلابېلو ادارو لخوا په مشخصو پرمختیایي سکټورونو لګول شوې وي، په ګډون د برېښنا، زده کړې، روغتیا، او امنیت. په لاندې چارټ کي د نامصرف شوې بودیجې ندي شاملي کړای شوې. سیګار دا خبره په رسمیت پېژني چي د نامصرف شویو بودیجو د موجودګۍ لپاره مهم دلایل موجود دي. د دې بودیجو تحلیل به د راتلونکي په راپورونو کي ورکړل شي.

| | دفاع وزارت | د بهرنیو چارو وزارت | USAID | USDA | د خزاني وزارت | نوري | تولي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مالي کال 2006 اختصاص | $2,248 | $306 | $800 | $57 | $0 | $136 | $3,547 |
| مالي کال 2006 ژمنتیاوې | $2,248 | $73 | $774 | $48 | $0 | $21 | $3,165 |
| مالي کال 2006 مصرفونه | $2,076 | $76 | $672 | $48 | $0 | $21 | $2,893 |
| مالي کال 2007 اختصاص | $7,903 | $345 | $1,574 | $20 | $1 | $200 | $10,043 |
| مالي کال 2007 ژمنتیاوې | $7,903 | $84 | $1,459 | $9 | $0 | $21 | $9,477 |
| مالي کال 2007 مصرفونه | $7,762 | $76 | $970 | $9 | $0 | $14 | $8,832 |
| مالي کال 2008 اختصاص | $3,426 | $378 | $1,835 | $21 | $0 | $144 | $5,804 |
| مالي کال 2008 ژمنتیاوې | $2,955 | $72 | $1,116 | $21 | $0 | $23 | $4,186 |
| مالي کال 2008 مصرفونه | $2,611 | $58 | $536 | $21 | $0 | $15 | $3,240 |
| مالي کال 2009 اختصاص | $2,456 | $196 | $1,301 | $21 | $0 | $108 | $4,073 |
| مالي کال 2009 ژمنتیاوې | $179 | $66 | $74 | $12 | $0 | $3 | $334 |
| مالي کال 2009 مصرفونه | $14 | $1 | $70 | $0 | $0 | $1 | $86 |

چوکاټ 3-3 اختصاص شوې، منل شوې، او مصرف شوې بودیجې د اداري په ترتیب (په ملیونونو کې) – په چارټ کې معلومات د مارچ 2009 د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ورکړل شوي

## په افغانستان کې د بیا رغوني قراردادونه

د هغې ډاټا له مخې چې د دفاع او بهرنیو چارو د وزارتونو، او نړیوالي پرمختیا لپاره د متحده ایالاتو د اداري لخوا ورکړل شوې، د جنوري 2009 سره سم په افغانستان کې د بیا رغوني د شاوخوا 950 قراردادونو لپاره تقریباً 13.6 ملیارده ډالر منل شوي دي. سیګار به دا ډاټا له لا زیات نږدې څخه معاینه کوي چې یو داسې پلان جوړ کړي چې وروسته په دې کال کې د دې قراردادونو د پلټنو یوه سلسله پیل کړي.

| اداره | د قراردادونو شمېر | منل شوی رقم |
|---|---|---|
| د دفاع وزارت | 813 | 2.7 ملیارده |
| د بهرنیو چارو وزارت | 3 | 5.1 ملیارده |
| USAID | 134 | 5.8 ملیارده |
| ټول | 950 | 13.6 ملیارده |

چوکاټ 3-4 د افغانستان د بیا رغوني قراردادونه، د اداري په ترتیب (په ملیونونو کې)[xviii]

مونږ د خپل هدف لپاره د منل شویو اصطلاح د دې لپاره کارولي چې د قراردادونو د هغه رقم ارزښت معلوم کړو چې د ادارو لخوا پېژندل شوي دي. هغه قراردادونه چې د USAID لخوا ورکړل شوي ارزښت یې د 100،000 ډالرو یا زیات دی.

## نړیواله مرسته

نړیوالي ټولنې، له متحده ایالاتو پرته، له 2002 راهیسې د افغانستان د بیا رغوني لپاره تر تقریباً 25 ملیارده زیاتو ډالر ژمنه کړې ده. تر دې نېټې، تر 70 زیاتو هیوادونو ( په ګډون د متحده ایالاتو او د ناټو د 19 نورو غړیو)، ملګرو ملتونو، نړیوال بانک، د پیسو نړیوالي بودیجي (IMF)، او نورو نړیوالو ادارو د افغانستان د اقتصادي مرستې لپاره د ټول 58.3 ملیارده ډالرو د مرستې ژمنه کړې.

**نړیواله مرسته جنوري 2002 – مارچ 2011**
**هغه ژمنې چې 39 هیوادونو، ملګرو ملتونو، IMF او نړیوال بانک کړې دي**

| مرستندوی | کړی ژمنه |
|---|---|
| متحده ایالات ** | $32,953 |
| ناټو | $ 10,500 |
| نور | $ 14,794 |
| ټول متحده ایالات، ناټو او نور | $58,247 |

چوکاټ 3-5 نړیواله مرسته (په ملیونونو کې)
په چارټ کې ورکړل شوي معلومات په مارچ 2009 کې د سیګار د معلوماتو پوښتنې ته ورکړل شوي ول[xix]

## د ګډ انسجام او نظارت پلاوی (JCMB)

بهتر انسجام او همکاري د دې لپاره ضروري دي چې افغانستان ته د ورکړل شویو بودیجو څخه بشپړه ګټه واخیستل شي. د افغانستان دولت او نړیوالې ټولنې JCMB په 2006 کې جوړ کړ چې د افغانستان د تړون د نظارت او تطبیق چارې ترسره کړي. د افغانستان د ولسمشر مشر اقتصادي مشاور او د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی د JCMB د ګډو مشرانو په توګه کار کوي، کوم چې د پنځو کلونو د مودې لپاره د اپریل 2006-مارچ 2011 جوړېږي. د پلاوي په 28 غړیو کې شامل وي 7 د افغان دولت استازي او 21 د نړیوالې ټولنې استازي. JCMB یو ریاست جوړ کړی دی او دا مهال ستراتیژیکه کتنه ترسره کوي چې د ANDS اهداف د افغانستان تړون د مقاصدو سره مربوط کړي. سیګار پلان لري چې د راتلونکیو درې میاشتنیو پر مهال د JCMB د غړیو سره ووینې او دا خبره ورسره مطرح کړي چې دوی د نړیوال انسجام د پراخولو او د دې خبرې د یقیني کولو لپاره څه کوي چې نړیوالې بودیجې د افغانستان د پرمختیا لپاره ولګول شي، او د ضیاع، دوکې، او ناسم استعمال خطرې کمې کړای شي. د دې مباحثو نتیجه به داسې پلټنې وي چې په افغانستان کې د مرستې د پرمختیا د انسجام تکاملي جاج واخلي.

# د بيا رغونې
# د نظارت لنډيز

پېژندګلوي

د نظارت هغه راپورونه چې له جنوري 30، 2009 راوروسته بشپړ شوي

د سيګار سختې تجربې

د نظارت پلان شوي راپورونه

# 4

## پېژندګلوي

کانګرس ته د سيګار دويم درې مياشتني راپور د هغو راپورونو يو لنډيز وړاندې کړ چې له 2003 راهيسې د دفاع او بهرنيو چارو د وزارتونو، USAID، او GOA لخوا خپاره شوي. د دې راپور په موده کې، GOA څلور راپورونه خپاره کړل. د عراق د بيا رغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي (سيګير) خپل زده کړې تجربې په يو راپور کې چې سرليک يې و – سختې تجربې: د عراق د بيا رغوني تجربه – د متحده ايالاتو کانګرس ته وړاندې کړ او سيګار د افغانستان د بيا رغوني په هڅه کې د هغې پر تطبيقتيا غور کوي. د بهرنيو چارو او دفاع د وزارتونو عمومي پلټونکي، USAID، او GOA دا مهال د افغانستان د بيا رغوني په تړاو په ګڼ شمېر پلټنو کار کوي.

## د نظارت هغه راپورونه چې د جنورۍ 30، 2009 راوروسته بشپړ شوي

GOA د افغانستان د بيا رغوني د پروګرامونو په تړاو دوه راپورونه او يوه کانګرسي بيان خپور کړی دی. GOA يو څلورم راپور، "افغانستان: د کانګرس د نظارت لپاره مهمې مسلې،" د اپريل په 21مه، هماغه وخت خپور کړ چې د کانګرس لپاره د سيګار درې مياشتنی راپور مطبعې ته روان و.

| اداره | سرليک | نېټه | راپور لمبر |
|---|---|---|---|
| GOA | د افغانستان امنيت: د هغو وسلو په اړه چې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته ورکول کېږي په اړه د سيستماتيک تعقيب نشتوالي د احتساب د پام وړ انديښنې راپورته کړې دي | جنوري 2009 | 267 – 09 – GOA |
| GOA | د متحده ايالاتو پروګرامونه چې د کورنيو چارو په وزارت او ملي پوليسو کې نور اصلاحات وکړي چې چيلنجونه يې د نظامي پرسونل او افغان همکارۍ د نشتوالي له امله راپيدا شوي دي | مارچ 2009 | 280 – 09 – GOA |
| GOA | عراق او افغانستان: د بيا رغوني د هڅو په وړاندې امنيتي، اقتصادي، او د دولتدارۍ چيلنجونه بايد د متحده ايالاتو په ستراتيژيو کې حل شي | مارچ 2009 | T476 09 – GOA |
| GOA | افغانستان: د کانګرسي نظارت لپاره مهمې مسلې | اپريل 2009 | SP473 – 09 – GOA |

چوکاټ 4 – 1 د GOA د نظارت بشپړ شوي راپورونه

**د افغانستان امنیت: د هغو وسلو په اړه چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ورکول کیږي په اړه د سیستماتیک تعقیب نشتوالي د احتساب د پام وړ اندېښني راپورته کړې دي**

GOA دا کتنه د دې لپاره ترسره کړه چې معلومه کړي ایا د دفاع وزارت (DoD) د هغو وسلو احتساب کولای شي چې د نړیوالې ټولنې لخوا افغان ملي امنیتي ځواکونو (ANSF) ته ورکړل شوې دي او دا خبره یقیني کړي چې ANSF هم د دې وسلو ساتنه او حساب کولای شي.

د دفاع وزارت، د خپلې ګډې امنیتي انتقال د قوماندې-افغانستان (CSTC-A) او د بهرنیو چارو د وزارت سره، د ANSF د روزلو او تجهیزولو د نړیوالې هڅې مشري کوي. د دې مشن د ملاتړ لپاره، د متحده ایالاتو د پوځ د امنیتي مرستې قوماندې (USASAC) شاوخوا 120 ملیونه لګولي چې د ANSF لپاره کوچنۍ او سپکې وسلې ترلاسه کړي. نړیوالو مرستندویانو هم ANSF ته وسلې ورکړې دي.

GOA دا خبره موندلې چې د دفاع وزارت د متحده ایالاتو د پرسونل لپاره داسې واضحه لارښودنه نده جوړه کړې چې د ANSF لپاره د وسلو د ترلاسه کولو، لیږدولو، او زیرمه کولو پر مهال یې تعقیب کړي. په پایله کې، د GOA راپور نتیجه ایستلې چې د دفاع وزارت د متحده ایالاتو د کنټرول لاندې د ANSF د ټولو وسلو بشپړ احتساب ندی کړای شوی. GOA اټکل کوي چې USASAC او CSTC-A د هغو 242000 میله وسلو څخه د 87000 – او یا 36 سلنه – وسلو بشپړ ریکارډ ندی ساتلی چې د متحده ایالاتو لخوا افغانستان ته لیږل شوې وې. د GOA له مخې، یو ایس ای سي ای سي او CSTC-A د دې وسلو څخه شاوخوا 46000 میله ټوپکو ته سیریل لمبرې نه وې ورکړې. سي ایس ټي ایس-ای د هغو اټکل شویو 41000 میله وسلو د ځای او استعمال ریکارډ ندی ساتلی چې سیریل لمبرې یې ریکارډ شوې وې. او نه CSTC-A د هغو شاوخوا 135000 میله وسلو لپاره باوري ریکارډ، په ګډون د سیریل لمبرو، لري چې د جون 2002 او جون 2008 ترمنځ موده کې د ANSF لپاره د 21 نورو ملتونو څخه ترلاسه کړای شوې وې. GOA موندلې چې د احتساب هغه کمزورۍ چې د اکمالاتو په دې ټوله موده کې راپېښ شوې دي د واضح لارښودني د نشتوالي او د عملي د کموالي له امله وې.

GOA نتیجه اخیستې چې د ANSF یونټونو د CSTC-A د روزني د هڅو سره سره د دې وسلو بشپړه ساتنه او احتساب ندی کړی. نتیجتاً، GOA وایي د دې خبرې جدي خطر شته چې کومې وسلې د CSTC-A لخوا ورکړل شوي غلا شوې یا ورکې شوې وي.

GOA سپارښتنه کړې چې د دفاع وزیر دې:

- د احتساب واضح پروسیجرونه جوړ کړي، په ګډون د سیریل لمبرو د تعقیب او د عادي فزیکي کتنو، د هغو وسلو لپاره چې د متحده ایالاتو په کنټرول او واک کې دي
- CSTC-A ته دې لارښودنه وکړي چې د ANSF د هر یونټ ظرفیت دې ورازوي او تصدیق کړي چې وسلې ساتلی او حساب یې کولای شي
- CSTC-A ته دې مناسبې سرچیني په لاس ورکړي چې ANSF د تجهیزاتو د احتساب په معاملو کې وروزي، او ارزونه یې وکړي

د دفاع وزارت د GOA د سپارښتنو سره موافقه وکړه، خو دا یې ندي ویلي چې کومې ستونځې په دې راپور کې پیژندل شوي هغه به کله حل کړي.

**د افغانستان امنيت: د متحده ايالاتو پروګرامونه چې د کورنيو چارو په وزارت او ملي پوليسو کې نور اصلاحات وکړي چې چيلنجونه پکې د نظامي پرسونل او افغان همکارۍ د نشتوالي له امله راپيدا شوي دي**

متحده ايالاتو په دې تر 6.2 مليارده زيات ډالر لګولي چې د افغانستان د کورنيو چارو د وزارت او د افغان ملي پوليسو سره مرسته وکړي. په دې راپور کې GOA د متحده ايالاتو د هغو هڅو د حالت کتنه کړې چې افغانستان سره مرسته وکړي چې خپل د کورنيو چارو وزارت بيرته جوړ کړي، د ملي پوليسو يونټونه بيا وروزي، د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو پرسونل سکرين کړي، او د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو د معاش سيسټمونه پراخ کړي. د دې اصلاحاتو هدف دا خبره يقيني کول دي چې د کورنيو چارو وزارت او ملي پوليس داسې مسلکي عمله ولري چې د پوليسو يو ملي ځواک اداره کولی شي. CSTC-A او د بهرنيو چارو وزارت د متحده ايالاتو د هڅو مشري کوي چې د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو تشکيلاتي جوړښت، د مشرتابه استعدادونه، او د معاشونو سيسټمونه پراخ کړي.

GOA موندلي چې د متحده ايالاتو ادارو د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو د بيا جوړولو، د پوليسو د معاشونو د ښه کولو، او پلان جوړولو او د کورنيو چارو د وزارت د دفترونو د بيا منظمولو اهداف ترلاسه کړي دي. د کورنيو چارو وزارت خپل د افسرانو شمېره د 17800 څخه 9000 ته کمه کړې، د لوړ منصب د افسرانو سلنه يې کمه کړې، او د ټولو منصبونو لپاره يې معاشونه لوړ کړي دي. د کورنيو چارو وزارت، د متحده ايالاتو په مرسته، دا پلان هم لري چې خپل دفترونه بيا منظم کړي.

د GOA له مخې، CSTC-A د ولسوالۍ د تمرکزي پرمختيا (FDD) د پروګرام له لارې د ملي پوليسو د يونټونو بيا روزل پيل کړي دي. دا پروګرام د دې لپاره دی چې د فساد ستونځه د ولسوالۍ په کچه حل کړي. د د دفاع وزارت د حيثيت راپورونه څرګندوي چې د FDD پروګرام غوښتل شوي نتيجې راوړې. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې د يونټونو 19 سلنه چې په دې پروګرام کې بيا روزل شوي اوس د دې استعداد لري چې مشنونه ترسره کړي، 25 سلنه دا استعداد د بهرنۍ مرستې سره لري، 31 سلنه د دې يوه برخه بهرنۍ مرستې سره د داسې کولو استعداد لري، او 25 سلنه دا استعداد نلري. CSTC-A غواړي چې FDD او داسې نور پروګرامونه تر 2010 ټول افغانستان ته وغځوي، خو د دې په وړاندې د نظامي پرسونل د کمبود له امله خنډ واقع شوی دی. د دفاع وزارت راپور ورکړی چې دا 1500 اضافي نظامي پرسونل ته اړتيا لري تر څو د پوليسو پرمختيايي پروګرامونه وغځوي.

GOA موندلي په داسې حال کې چې د کورنيو چارو وزارت او ملي پوليسو دواړو افسران د دفاع وزارت او د بهرنيو چارو وزارت لخوا سکرين شوي دي، د سکرين کولو حد معلوم ندی ځکه چې د بهرنيو چارو وزارت په سيستماتيک ډول د خپلو هڅو ريکارډونه نه راغونډوي. اصلاً د دې لپاره چې د افسرانو د ډلو مسلکيتوب او ارتباط ته وده ورکړي، د سکرين کولو په هڅه کې شامل ول ازموينه چې د CSTC-A لخوا ترسره کېږي، او د شالېد معاينې چې د د بهرنيو چارو وزارت لخوا ترسره کېدې. CSTC-A راپور ورکړی چې د 17800 هغو افسرانو څخه چې دا ازموينه يې ورکړه لږ تر لږه 9797 – يا 55 سلنه – بريالي شول. د بهرنيو چارو وزارت GOA ته د شالېد د معلومولو شماري نتيجې ندي ورکړې ځکه چې دا په سيستماتيک ډول خپل ريکارډونه نه راغونډوي.

د متحده ايالاتو په مرسته د معاشونو د سيستم د اصلاح د هڅې هدف د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو د پرسونل اعتباري کول او د معاشونو باوري ويش يقيني کول دي. GOA موندلي چې په دواړو برخو کې د پرمختګ سره سره دا هڅې اوس هم د چيلنجونو سره مخ دي چې لامل يې د ملي پوليسو محدوده همکاري او د بانکونو کموالی دی. د متحده ايالاتو قرارداديانو د کورنيو چارو د وزارت او ملي پوليسو د نږدې 47400 تنه پرسونل تصديق کړی دی. خو، د ملي پوليسو د ځينو قوماندانانو لخوا د همکارۍ د نشتوالي له امله، دا قرارداديان په دې ندي توانېدلي چې د 29400 پرسونل تصديق وکړي، چې د معاشونو يوه برخه يې د ملګرو ملتونو د باور د هغې بوديجې څخه ورکول کېږي چې متحده ايالاتو پکې 230 مليونه ډالر ورکړي دي.

GOA معلومه کړي چې د کورنیو چارو د وزارت او د ملي پولیسو د ټول راپور شوي پرسونل 97 سلنه د معاش د ورکولو په یو برېښنایي سیستم کې داخل شوي دي، او 58 سلنه د دې لپاره داخل شوي چې معاشونه به یې نېغ په نېغ بانکي حسابونو ته لیږدول کیږي. خو، د ملي پولیسو تقریباً 40 سلنه پرسونل بانکونو ته اسان لاسرسی نلري.

GOA سپارښتنه کړې چې د دفاع او بهرنیو چارو وزیران دې لاندې اقدامات وکړي:

- داسې زیارکښ پرسونل دې ورکړي چې د پولیسو د روزونکو اضافي ټیمونه جوړ کړي څو د FDD پروګرام پراخ او بشپړ کړي
- د پولیسو د معاشونو لپاره دې د متحده ایالاتو د پیسو ورکولو په شرطونو غور وکړي چې تر هغه حده انعکاس کوي تر کومه چې د متحده ایالاتو اداره د کورنیو چارو او ملي پولیسو پرسونل تصدیقوي

د دفاع وزارت د لومړنۍ سپارښتنې سره موافقه وکړه او د بهرنیو چارو وزارت وویل دوی چمتو دي چې اضافي پرسونل ونیسي. د بهرنیو چارو وزارت د دویمې سپارښتنې سره موافقه وکړه خو د دفاع وزارت وویل چې دا به په غیر ضروري ډول د کورنیو چارو وزارت ته ضربه ورسوي. GOA فکر کوي چې دا سپارښتنه ملي پولیس دې ته هڅولی شي چې په لا زیاته بشپړه توګه مرسته وکړي او دا خبره یقیني کړي چې یواځې مشروع پرسونل د متحده ایالاتو لخوا ورکړل شوې پیسې ترلاسه کړي.

## د سیګیر سختې تجربې

د 2008 د فبروری په 2مه نېټه، د عراق د بیا رغوني لپاره ځانګړي عمومي پلټونکي (سیګیر) کانګرس ته د دې زده کړې تجربې په یو راپور کې وړاندې کړې چې سرلیک یې دی – سختې تجربې: د عراق د بیا رغونې تجربه. دې راپور لاندې 13 "سختې تجربې" پېژندلې چې د عراق په بیا جوړلو کې د متحده ایالاتو هڅو ته شوې:

1. د لویې کچې د بیا رغونې د بریالیتوب لپاره امنیت ضروري دی.
2. د خلکو او سیستمونو ظرفیت لوړول همدومره مهم دی لکه د پوځ او پولیسو بیا رغول.
3. په ناخوندې چاپیریالونو کې پاسته پروګرامونه د نظامي عملیاتو د مهم جزو په توګه کار کوي.
4. پروګرامونه باید د محلي لومړیتوبونو او اړتیاو سره برابر وي.
5. بیا رغونه د سیاسي ستراتیژۍ یوه غځونه ده.
6. د ولسمشر لاندې اجراییه واک د دې لپاره ضروري دی چې د اسانتیا او بیا رغونې د فعالیتونو اغېزمنتیا یقیني کړي.
7. بې مداخلې نظارت د دې خبرې د یقیني کولو لپاره مهم دی چې د ټیکس ورکوونکیو د پیسو ارزښت په فعالیتونو کې اغېز ولري.
8. د سمبالښت یو مربوط جوړښت د دې لپاره ضروري دی چې د بیا رغونې اغېزمنې بین الاداري هڅې یقیني کړي.
9. د قراردادیانو لپاره د بهرنیو سرچینو سمبالښت باید محدود وي ځکه چې دا د بیا رغونې په فعالیتونو کې د واک کرښې پیچلې کوي.
10. د متحده ایالاتو حکومت باید د جنګ د وخت د قراردادونو لپاره نوي داسې قواعد جوړ کړي چې ډېر زیات ازاد وي.
11. د متحده ایالاتو حکومت د بشري سرچینو د سمبالښت یو نوي سیستم ته اړتیا لري چې د دې استعداد ولري چې د اسانتیا او بیا رغونې د غټې کچې د فعالیتونو غوښتنې پوره کړای شي.
12. د متحده ایالاتو حکومت باید خپل دا ظرفیت پیاوړی کړي چې هغه قراردادیان اداره وساتي کوم چې د اسانتیا او بیا رغونې په عملیاتو کې د بیا رغونې کار ترسره کوي.
13. ډیپلوماتیک، پرمختیایي، او د سیمې مهارت باید پراخ کړی شي چې دا خبره یقیني کړای شي چې د بیا رغونې په کارونو کې د کافي بااستعداده ملکي پرسونل اکمالات شوي وي.

د معلوماتو د هغې غوښتنې د برخې په توګه چې په فبروري 2009 کې یې خپره کړې، سیګار د تطبیقوونکو ادارو څخه غوښتنه کړې چې په دې خبره غور وکړي که چیرې دا تجربې د افغانستان د بیا رغونې په هڅو کې د تطبیق وړ وي. دې ادارو ځواب راکړ چې تر ټولو زیاته مهمه تجربه د بې دخله نظارت ده او دا د دې لپاره ډېره مهمه ده چې د ټیکس ورکوونکیو ډالر د بیا رغونې په پروګرامونو کې هغسې ولګول شي څنګه چې پکار ده.

## د نظارت پلان شوی پلټنې

| اداره | د پلټنې سرلیک | د پېل کېدا نېټه |
|---|---|---|
| د بهرنیو چارو OIG | په افغانستان کې د Xe (پخوا د بلیک واټر په توګه پېژندل کېده) WPPS کتنه | فبروري 2009 |
| د بهرنیو چارو OIG | په افغانستان کې د WPPS ډي ایس سمبالښت | فبروري 2009 |
| د بهرنیو چارو OIG | په افغانستان کې د مخدره موادو ضد پروګرامونو اغېزمنتیا | فبروري 2009 |

چوکاټ 4-2 د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر، رواني پلټنې

| اداره | د پلټنې سرلیک | د پېل کېدا نېټه |
|---|---|---|
| د دفاع وزارت IG | د تلپاتې ازادی د عملیاتو په ملاتړ کې د دوام د اساسي قراردادي د پروګرام د قرارداد اداره | فبروري 2009 |
| د دفاع وزارت IG | د عراق\افغانستان د ګډې قرارداد کولو قوماندې انتقال د معیاري دوام سیستم ته | جنوري 2009 |
| د دفاع وزارت IG | د هغه جایداد انتظام او دوامداري چې د افغانستان د سیمییزو قرارداد کولو په مرکزونو کې اخیستل شوی دی | سپتمبر 2008 |
| د دفاع وزارت IG | هغه قراردادونه چې د د دفاع وزارت د مخدره موادو او تروریزم ضد پروګرامونو مرسته کوي | جولای 2008 |
